د کابل مجلې د پنځوسم نشراتی
کلن د نمانځنی په ویاړ

# پښتو نثر ته کره کتني

لیکوال

پوهاند عبدالحی حبیبی

خپرونکی

د افغانستان د علومو اکادیمی
د ژبو او ادبیاتو علمی او تحقیقی مرکز

پښتو ټولنه

۱۳٦۰

پښتو خو د منځنۍ اسيا په آريايي ژبو کی يوه لرغونۍ ژوندۍ ژبه ده، چی په پتله توګه د سنسکريت او اوستا او لرغنۍ پاړسو د باختري او سغدی او پهلوی ژبو سره ټينګه پيوستنه لري.

خو د بده مرغه د دې ژبې ادبي مرتب ليکونه د کتاب يا ډېرليک يا بل ډول ليکل سوي اثر په توچه تر اسلام دمخه موږ ته نه دي را سيدلي، او هر څه چه لرو، ګرده سم د سمنی په اسلامی دوره اړه لري، چی عمر ئې تر ۱۲۰۰ کلونه زياتيږي، او د هغه دوره ده، چی موږ بله ژبه (دري) هم دغوني ادبی ثابت ژوند لري.

ښه، دا خو د يوې ژبې لپاره ناوړه نده، که موږ اوس دا ژبه ژوندۍ وساتو او د اوسنۍ دبيا، نوي پوهنی او انديښنې پکی را ګډي کو، چی زموږ راتلونکی پښتو ژبي زلمی، پخپله ژبه کی بشپړ غلمی او فکري پانګه ولري، او سبا د علمي پرمخ تلون پر ډګر، تش لاسی نه وي.

د پښتو پر نثر باندي تر اوسه لږي څيړنی سوي دي، او اکثر کتابونه ئې ورک دي. د شيخ ملي دفتر خو به هرو مرو هغه چا تري تم کړي وي، چی له پيښوره تر سواته او اټکه، وروسته د مځکو خاوندان سوي و، او بيا د انګريزي استعمار بند و بست ۱۸۶۹م ټولی کښتی مځکی د مالکانو په نامه ثبت او تر ماليي ئې لاندي کړې، که د دفتر کومه نسخه اوس پاته واي، ښايی چی د پښتو نثر يوه ښه لرغونۍ نمونه به واي.

نو اوس چی زموږ سره د لرغونی نثر بشپړه ذخيره نسته، او يو څو لنډي ټوټې مو تر ۶۰۰هـ را وروسته په لاس کی دي، ښه به دا وي، چی ليخي را وغړو، او اوسني نثر د اوسنيو اړتياوو سره سم ورروزو.

دا نثر به نو څنګه وي؟

د دې پوښتنی غبرګون په لنډ ډول زما يو څو مقالی ورګوي، چی په تيرو کلو کی کښلي سوي او خپرې سوي وې.

په دې مقالو کی د پښتو د نثر لنډ تاریخی او ځینی نمونې د تاریخی تکاملی یونه سره سمی راغلی او د پخوانی او اوسنی نثر ښیګړې او ناوړې دواړه ښوولې سوي دي.

دا مقالې خو خپرې وړې وې، اوس د ښاغلی زلمی هوادمل په توجه دلته د یوه کتابګوټی په ډول سره را ټولی سوي او درنو لوستونکو ته وړاندي کیږي. هیله ده چی مبتدیانو او زده کوونکو ته به ګټه ور وي، او منتهیانو ته به د غور او څیړنی (د مننی یا نه مننی) وړ وي.

زه د دغو ورکو لیکنو په را ټولونه کی ښاغلی هیوادمل ته کور ودانی وایم.

کابل، جمال مینه

د حوت شلمه ۱۳۵۷

عبدالحی حبیبی

# د پښتو نثر ليکلو لارې

په دې مقالو کې مې د څېړنې دپاره د نثر ليکلو بحث غوره کې، ځکه چې په پښتو خو څه نه څه د نظم او شعر زېره پانګه يا سر مشق موږ لرو اما د نثر سرمايه مو خوارا لږه ده بلکې نسته!

پخوانو خلکو خو نثر نه دي ليکلي، او هغه چا چې کښلئ دئ، هغه خو نيم نثر ګڼل کيږي او د شعر د سجع او قافيې لحاظونه يې پکې کړي دي. تر ۹۰۰ هـ دمخه د نثر نمونې ډېري لږ دي، خو تر دغه را وروسته چې پير روښان په خيرالبيان او اخون درويزه په مخزن او اخوند قاسم په فوائد الشريعة کې تقريبا څلور سوه کاله دمخه نثر ليکل وغوښته دا نثرونه که څه هم پر خپل ځای زموږ ادبی پانګه ګڼله کيږي او د پښتو د ادب په تاريخ کې پخوانی مقام لري، مګر اوس زموږ دپاره سرمشق نسی کيداي، ځکه چې هغو ته پوره نثر نسو ويلاي. د خوشحال خان او د ده د زامنو او لمسو له منشورو کتابو څخه دا ښکاره کيږي، چې د خټکو نثر تر روښانی سبک خوږ او ساده او د نثر په ډول و. دغه خبره د عبدالقادر خان د ګلستان له ترجمې او د ګوهر خان له قلب السير او د افضل خان له تاريخ مرصعه هم ثابتيږي.

په هر صورت موږ اوس مجبور يو چې خپلې ژبې ته د نثر ليکلو سبک پخپله وټاکو. د سبک ټاکلو څخه مطلب دا نه دئ چې په ژبه کې له ځانه بې ځايه تصرفات وکو، يه، يه! مطلب دا دي چې پخپل نثر کې دا خبره اساس وګرزوو، چې: ويل او ليکل مو سره سم وي.

يعنی هر څه چې په خوله وايو هغه وليکو.

ملټون وايي: چې نثر هر څونې ساده او دلکش وي هغونی مفيد دي!

کالرج ليکی: فصح او مناسب الفاظ چې وزن نلری نثر يې بولي.

موسيو روژوان، وايی: د انسان په ژبه يا قلم که کوم خيالات ښکاره سی او بې وزنه وي، نو يې نثر بولو.

د نثر په ښيګړه کی د الفاظو صافوالی او ناپيچلی کلمات ضروري دي، چی ويونکی يا اورېدونکی بې زحمته په وپوهيږي. په نثر کی پريوللی الفاظ او سپيځلی جملې ليکل او خپل مطلب په داسی ژبه ادا کول چی هيڅ اشکال او وراني ونلری ډېر ضروري دي. د نثر ليکلو کمال دا دی چی خپل مطلب ساده اما دلچسپ ادا کی، او د ويونکی په زړه کی ځاي ورکی، او په ماغزو يې ور ننباسی په نثر کی هر راز ګران او سپيځلی مضامين او درانه مطالب راځی او د دغو خبرو اسانه کول او ښه فهمول فقط د ليکونکی او نثار کار دي. يو ماهر او پياوړي ليکونکی د ساينس يوه ګرانه خبره، د فلسفې يو مشکل بحث، د اجتماعياتو يو ګنجلک موضوع په داسی ډول کښلاي سی، چی ويونکی ته هيڅ ډول تکليف پيښ نسی، او په لومړۍ پلا ويلو په وپوهيږي.

مثلا: په پاړسو ژبه کي د غزنوي عصر مؤرخ بيهقی چی د خپلي زمانې تاريخ يې ليکلي دي، په خورا ساده او خوږ او سپيځلی نثر دي که موږ دغه نثر د وصاف يا د ميرزا مهدی يا د بيدل له نثر سره مقابله کو مځکه او آسمان فرق سره لري په هغه اندازه چی د بيهقی سبك سليس او روان او لکه اوبه داسی پاك او بې خيري دئ په هغه اندازه د نورو ليك لکه سنګړي دروند او د اغراق او اشکاله ډک دي. حال دا چی موضوع د دواړو يوه ده او مطلب يې د تاريخ حوادثو ښکارونه او ځرګندول دي. نوري به پرېږدو، و پښتو ته به راسو ځکه چی زموږ د ځيړنی مطلب هم دغه دئ چی د خپلی ژبي پر نثر ليکلو باندي وږغيږو. د پښتو نثر آثار چی موږ ته را رسيدلی دي خورا لږ دي زه چی څه معلومات لرم لاندي به يې نمونې در وړاندي کم:

**د پښتو د نثر سوابق:**

تر اوسه پورې د پښتو نثر خورا پخوانی اثر چې موږ ته را رسیدلی دي د سلیمان ماکو ارغسانی د تذکرة الاولیا شپږ پاڼې دي او د ده له نثره ښکاري چې پخوا د پښتو لیک ساده او روان او محاورې ته نژدې و. ده دا کتاب په ۶۱۲هـ کښلی دئ چې نمونه یې دا ده:

"نقل کاندي: چې بیټنې سپین ږیري سو نو ده به هر کله څښتن باله او رب ته به یې درخواست کاوه چې زما په کاله او د سړبن او غرغښتی په کهول کی برکت کښیږده، بادار قبول کړ د ده درخواست، او ډکه سوه مزکه د پښتونخوا د دوي په کهول".[۱]

تر سلیمان ماکو وروسته نزدې بل د نثر کتاب تر اوسنه ندئ معلوم خو درې سوه کاله وروسته ګورو چې بایزید روښان د ۹۵۰هـ په شاو خوا کی خپل خیرالبیان په څلورو ژبو پښتو، فارسی، عربی، پنجابی کښلی دئ.

مګر پیر روښان خو د نثر په کښلو کی هغه لار نده نیولې کومه چې سلیمان ماکو درې سوه کاله دمخه نیولې وه.

د پیر روښان نثر هم پوره نثر ندی، لکه نیم منظوم بې خونده لیک دي چې د جملو په پاي کی یوه سجع ځایوي او د ده نثر له پښتو محاورې څخه لیرې کوي لکه:

"ذکر مي د تن د اندم د ژبی، د زړه، دسه کړي دي عیان.
د تن ذکر هغه دی چې تن وجار باسی له واړه حرام.
د اندام ذکر هغه چې کتاب تسبیح یې لولي وایي ښه کلام.
و قولو اللناس حسنأ بیان دي په قرآن.

۱. پښتانه شعراء لومړی ټوک.

د زړه ذکر هغه دئ چې کښيباسي ځما فکر او ځنی وباسی اندیښنه د شیطان د سه ذکر هوي دي چې ننباسی او وباسی ځما په یاد هره سه، هر حال په هر ځاي چې وي ذاکران او بیان."[1]

د پیر روښان رقیب او مخالف سړی خو اخوند درویزه ننګرهاری دي چې د خیر البیان په پیروي يې کټ مټ هغسی نثر کښلی دی، لکه پیر روښان چې کښلی ؤ.

درویزه خپل کتاب مخزن الاسلام بللی دئ چې ډیري خطی نسخې يې سته او یوه زړه نسخه يې ځما څخه ده، چې په ۱۱۶۷هـ فاضل محمد کاسی په ملتان کی لیکلې وه، لکه دمخه چې مو وویل درویزه خپل نثر د نظم په ډول ککړوي مثلا: "بیا که څوک دي ویو ښتینه چې سنت د اسلام خو دي! ته اګاه شه بل خلاص شه له پساته" (مخزن). اخوند قاسم باپنیخیل هم پخپل فوائد الشریعة کی د درویزه په ډول نثر د نظم په دود کاږي مثلا: "په کیمیای سعادت کی دي راوړي هسي زده کړئ مومنانو چې امید پر هغه کانی چې تابع د شریعت وي مستقیم د پاک نبي په ښه سنت وي. (ګلشن روه، ص ۱۹).

درویزه خو د مغولي اکبر معاصر دي او د ۱۰۲۸هـ په حدود کی وفات سوي، اما د راورټي په قول[2] اخوند قاسم فوائد الشریعة په ۱۵۶۰ع، ۹۶۷هـ کال کښلئ دئ او (وګورئ د راورټی د پښتو ګرامر دیباچه) چې په دې حساب نو دوی دواړه د پښتو پخواني او لمړني نثر لیکونکی دي. تر دوی دمخه یا وروسته بابو جان هم د دوی په ډول خپل کتاب کښلي دئ، چې د راورټي په توجه يې اوس موږ ته څو بابه پاته دي د ده د نثر نمونه دا ده:

---

۱. خیر البیان خطي ۱۲۸ پاڼه چې فقط یوه نسخه ئې د غربی المان د توبنګن په کتابخانه کی سته او د فقیر بهارتوی په قلم په ۱۰۶۱هـ کال د بي بي خیر خاتون لپاره کښلی سوې او په ۱۳۵۳ش په کابل کی عکسی چاپ سوې ده.

۲. د فواید الشریعت په باب د راورټي نظر د تأمل وړ دی، اخوند قاسم په ۱۲ هـ قرن کی ژوندي ؤ. وګوری د پښتو شعر تاریخچه.

"څو د دې دنیا شاهان وو هغه څه شوه
ابر و باد د دوي تختونه په هوا وړه هغه څه شوه"
(ګلشن روه)

له دغو درو نمونو څخه ښکاره ده چې د پښتو زوړ نثر یو داسې نثر و، چې د قافیو او سجعو رعایت پکې کېدئ او کله کله د بحر او عروض څخه هم تش نه ؤ!

د اخوند نثر زوړ او لومړنی سبک ؤ، مګر لکه د ختکو ادیبانو چې زموږ ژبې ته نظماً ډېر خدمتونه کړي دي، دغسې هم موږ او زموږ ژبه نثراً د دوي ممنونه ده!

ځکه چې خوشحال خان او د ده علمي کورنۍ د پښتو نثر هم د روښان او اخوند درویزه له سبکه را واړاوه او اصلاحات یې پکې وکړه.

پخپله د خوشحال خان منثور آثار تر منظومو لږ دي، مستشرقین د ده کتابونه تر ۱۰۰ جلده پورې ګڼي، راورټي وايي چې ۲۵۰ کتابونه ده لیکلي دي[1] او پاړسو انوار سهیلي (کلیه او دمنه) یې په پښتو د عیار دانش په نامه ترجمه کړې وه[2] چې دا نسبت تحقیق غواړي او دغه کتاب ما ندئ لیدلي، او ریاض الحقیقت او فرخنامه او پښتو هدایه او نور منثور آثار هم ده ته منسوب دي.[3] د خوشحال خان منثور کتاب دستار نامه چې د جهاندارئ یو مرتب لار ښوونکی او د پښتو د مشرتابه کړنلاره ده د ۱۳۴۵ش د اسد په میاشت په کابل کې چاپ سو. دا کتاب غټ معنوي او ادبي ارزشت لري، او د پښتو نثر هغه دوره را ښکاره کوي، کله چې خوشحال خان تر روښاني دورې وروسته وغوښتل، چې د پښتو نثر بیرته اصلي مجرا ته ور وګرزوي، او د روښاني سبک له سجع کوترمولو څخه ئې خلاص کې.

۱. وګورئ د پښتو شعر تاریخچه.
۲. د راورټي د پښتو ګرامر مقدمه، کلیه و دمنه د افضل خان نثر ترجمه ده.
۳. د پادري هیوز کلید افغاني مقدمه.

افضل خان خټک په تاریخ مرصع کی وایي: خوشحال خان ځینی تاریخی یاداښتونه هم لیکلي وو، اما د دستارنامې د لیکوال له منثورو کتابونو څخه فقط دونی ویلای سم، چی ده لکه نظم د نثر خوا ته هم توجه درلوده او د پښتو نثر ته هم ده لکه نظم ډیر ښه تحول ورکړی دئ، نو ځکه موږ دی د پښتو پلار ګڼو. که تاسی تر ده دمخه د پښتو منثور کتابونه او د هغو سبک وګورئ او بیا هغه د ده د نثر سره مقابله کی، نو به درته ښکاره سی چی خوشحال خان په حقیقت کی هم د پښتو د نظم او نثر پلار دی، خو افسوس دلته دی چی د ده منثور آثار ورک او د نظم په ډول رواج او عام نه دي، دلته موږ د ده د نثر یو څو جملې نمونه وړاندي کوو:

"شناخت د خان په دوه رنګه دي. یو په ظاهر بل په باطن ظاهر دا چی په ظاهر نعمتونه چی و تا ته یې در کړي دي. نظر وکري ـ چی له عدمه یې موجود کړي، نه وي، وشوي، نیست وي، هست شوي. که ډیر وایم کتاب اوږدیږي دا هومره زده کړه چی د نر ښځي تر میان چی مینه محبت کیږي، مقصود د هغه محبت واړه دا دي چی مقصود ته یې د تولد د تناسل لار مسدود نه شي." (دستار نامه ص ۱۰ )

تر خوشحال خان وروسته نو د ده د زوی عبدالقادر خان خټک ګلدسته[۱] ده چی د سعدی ګلستان یې په پښتو کړی دي. د ده ژبه که څه هم د ترجمې تر اغیزې لاندي ده، مګر بیا هم خوږه ده یعنی د اخوند درویزه د مکتب شاګرد نه دی، بلکه د خپل پلار مقلد دی، او نثر یې بشپړ نثر ګڼل کیدلای سی دلته یې یوه نمونه ولولي:

"یو پادشاه د خراسان د ملک په خوب کی سلطان محمود د سبکتګین ځوي ولید. سل کاله د ده له مرګه، چی درست وجود یې رژیدلي، خاوري شوي، مګر سترګي یې چی په کولکونو کی غړیدلی." (ګلشن روه)

---

۱. د عبدالقاد خټک ګلدسته، د پیښور پښتو اکاډیمی چاپ کړې ده.

د خوشحال خان په کورنۍ کی بل مشهور نثار د ده لمسي افضل خان د اشرف خان زوی دي، د ده د نثر قلم هم ښه دئ، او لکه خوشحال خان خپل مطلب په روانه پښتو (لږ څه د فارسی تر اثر لاندي) لیکی.

د قرآن شریف د یوه پښتو تفسیر یو ټوک په کابل کی پیدا سوي دئ چی غالباً د افضل خان ترجمه او تفسیر ښکاري، د ده تاریخ مرصع په ۱۹۷٤م کال د ښاغلی دوست محمد کامل مومند په تحشیه او زیار د پیښور په ښار کی چاپ سو، چی متأسفانه خط ئې ښه ندئ او ځینی مبهمی او کرغیړنی جملې لري، چی ښایي د کاتبانو سهوي وي.

لاندي ټوټه د افضل خان د نثر نمونه ده:

## مقدمه د جمال

پسله فوته د اورنګ زیب پادشاه، جمال مهمند او بعضی ظاهربین کوته اندیش ورسره، سر په شورش پورته کړي و. په مهمند کی موسریزي و، او موسریزي په مهمندو کی کمزورې تپه ده. غرض ئې دا و چی په دا شورش کی به د مانامه ناموس وشی، اربابی به بیا مومم، په دا میان کی ډیر افراط تفریط ور څخه وشو.

هر ګاه چی په سن زر سل دوه ویشت صوبه داری د دارالملک کابل په نامه د ناصر خان شوه، پښناور ته راغی، اربابی ئې ورکړه. اما د ده ناکردې چی پخوا د ناصر خان تر سرداریَ یا په صوبداریَ کی یې د ناصر خان کړي وې د ناصر خان په خاطر وې. په خپلی اربابیَ کی ئې کلی د عیسی مهمند هم وواهه. په تل ئې ختنه وکره. عیسی مهمند په خپل خیل کی زورور دئ جوړه ئې د ناصر خان سره وکړه. د مغل په ویرانیَ کی پښتانه خپله مدعا ده (؟)...

په دا میان کی د جمال د زوي د واده کار پیښ شو، ناصر خان دوه زره روپیَ هم پطریق د انعام ورکړې، نور عیسی په نوم د مغل جر (؟) ئې ور پسی کړ. هغه شپه چی ئې د زوي واده و، د لښکر سره ور روان شو، په کور ئې

ورغئ. جمال له دې هسی آفته غافل و، مخی ته ور ووت. تاب ئې د جنګ رانه وړ، زخمي کور ته ننووت. عیسی ئې په کور اور پوري کړ، پکښي وسه، اتیا کسه نر، ښځي ووړکی هلکان د واده هم په هغه کور کی ور سره وسول. دا واقعه په سن زر سل درویشت وه، خدای دې له دې هسی افته امان وکا...

(تاریخ مرصع ۴۰۲)

دا خو د خوشحال خان د مکتب د نثر یو ښو نمونې وې. ښکاریږي چی تر دې وروسته د پښتو د نثر لیکلو مروج سبک هم دغه و، یعنی د خټکو سبک مقبول او خپور سوي او هري خوا ته یې پښتنو تقلید کړي دي. د خټکو د مکتب سره د پښتو هغه نثر چی نه پوره نثر ګڼل کیدي، او نه پوره نظم یعنی د پیر روښان او د اخوند درویزه د مکتب سبک ورک سو او دوي د پښتو نثر او نظم سره بیل کړه. هر یوه ته یې خپل حد او خند مقر کئ. دا ویش وروسته مقبول سو او ټولو پښتنو ومانه، ځکه چی طبیعت ته هم نژدې و، او رحمان بابا او حمید او نورو یوازي د نظم خوا ونیوله. تر دې وروسته د ځینو نثر لیکونکو د لیک نمونې دغه دي: د آدم خان او درخانۍ اصلی قصه که څه هم زړه ده، او دا دوه مینان د مغولی اکبریه وخت کی ۹۳۲-۱۰۱۴هـ تیر سوی دي، مګر داسي ښکاریږي، چی د قصې ترتیب او ټولول او تهذیب د کتاب په ډول وروسته سوئ دئ! ځکه چی د قصې اصلي نارې خو چی موږ ګورو د روښان د مکتب په سبک اړه لري اما نور نثر یې د خوشحال خان د مکتب نثر ته ورته دي. مثلاً: د آدم پر درخانو ناره:

"درخاني! زه په اصل کټه باز یم چه پر تا زړګي شیدا شوم! اوس ته راته په کټ مټ خاندې درخانۍ!

زه زبون ستا د خندا شوم! ..."

دا خو هغه د روښان په ډول نیم منظوم نثر دي، اوس نو د دې قصې یو څه نثر وګورئ:

دوهم دا چی توجه باطنی پري وکړم، چی خاطر يې په اضطراب ګډ و وډ شي، او روح به يې شغل په بل احوال کا او مخ به څرګند لکه مشل شي. (د آدم خان او درخو قصه قلمی).

نو دا ښکاره سوه چی د کتاب په ډول تر خوشحال خان وروسته ليکلی سوي ده. ځکه چی نثر يې په دغه مکتب اړه لري، او هغه نظم چی د کتاب ليکونکی د خپلي خوا کښلي دي، ټوله پوره هغه نظم دی چی خوشحال خان يې لوی استاد و مثلاً:

سل ارمان چی آدم ولاړي له جهانه
په فراق يې پښتونخوا شوله ګريانه

نو د کتاب جامع نارې پر خپل زاړه حال پريښی دي. نثر يې د خوشحال خان د مکتب پر سبک مهذب کړي دي او ځاي ځاي يې چی له ځانه شعر ويلي دي هغه هم د خټکو پيروي ده.

تر دې عصر وروسته چی نور ټوله د پښتو ليکونکی راغلي دي، د خټکو د مکتب شاګردان او پيروان دی، او د پښتو نثر سم سوي او سلاست او ښکلي توب يې ميندلي دي، مثلاً محمد د حنيفه د حسن او حسين (رض) قصه داسي ليکلې ده، له هغه څخه يوه کرښه دا ده:

"علي اکبر او قاسم دي چی دواړه ولويدل، اهل واړه ولاړ وو، د ازل په اراده کی کښلی داؤ..." (د راورټي ګرامر ص ۱۳۵)

له لوړو مثالونه څخه به تاسی ته د پښتو د نثر سير او د سمون مثالونه ښه څرګند سوي وي. د پښتو ژبه تصنع او تکلف نه منی نو ځکه ملي نثر په لږ وخت کی پر طبيعي لار روان او خوږ سو. د دې خبري د اثبات دپاره دغه دليل کافي دي، چی د خټکو په کورنۍ کی کاظم خان شيدا د متکلف او متصنع او د هندی سبک او د پارسی د مصنوعی الفاظو او اغلاقونو ملګری دي، مګر چی دغه حرکت طبيعی نه دي، نو ځکه شيدا په خپل مسلک کی

ناکامه دي او په پښتو کی شهرت نه لري. د ده نظم خو د بیدل تر اشکال ترا شیوا او تصنع هم پیچلي او ګنجلک دي. اما نثر يې هم يو عجيب نثر دی چی د پښتو له طبيعی ډوله سره هيڅ نسبت نلري مثلاً د خپل ديوان به ديباجه کی کاږي:

"زه چی په دکان کی د شاعرۍ قليل البضاعت يم او ايوان د زبان اورۍ زرنګار د صناعت نلرم خپل مناسبت فطري له دې شيوې سره په محل د قصور کی مومم، او موانست جبلي له دې وتيري په مراحل دورتر..."

(د شيدا د قلمي ديوان ديباچه)

که څه هم د شيدا کلام او ليک، دواړه ډير غنيمت دي، او ده د پښتو ژبي د کامل استعداد امتحان ورکړي او دا يې ثابته کړې ده، چه هر راز مضمون که څه هم د ژبي له طبيعی او فطری استعداده ليرې وي په پښتو کی ادا کيداي سي، اما لکه د ده معاصرينو او وروستو پښتنو چی د ده لار نده منلې، موږ هم دغه ليک او شعر د پښتو سره مناسب او وړ نه ګڼو!

خو مطلب دا ؤ چی له روښانه څخه بيا د خوشحال خان تر مکتبه د پښتو د نثر ډول وښيو:

اوس چی له دې فارغ سوو، نو به لږ څه پر نوي ليک هم څيړنه وکو، په اتلسم مسيحی قرن او د نونسم قرن په ابتدا کی په پښتو ځنی آثار ليکل سوي دي چی موږ يې وګورو، نو به دغه آثار په يوه بل مکتب پورې اړه ولري. چی د ليک سبک يې د خوشحال خان تر مکتب لا هم پوخ او ساده او زړه وړونکی دي. د دې مکتب په معرفی کولو کی راورټی او پادری هيوز او دارمستتر او نور ډير اوږد لاس لري، او دوی د پښتو آثارو په خپرونه کی ډير ښه زيار کښلي دي، په دې زمانه کی ډيرو پښتنو په نثر ليکولو کی کمال ښکاره کړي، او يو نوی سبک يې منځ ته راوړي دئ.

د دې سبک یو روڼ ستوري د پیښور منشی احمد جان و، چی آثار ئې فکري ذخیره لر لري، خو د ده د نثر لیکلو قلم خورا سلیس او روان دي که محترم لوستونکی زما سره اتفاق کوي نو به زه دغه مکتب د ده په نوم یاد کم یعنی "د منشی احمد جان د نثر مکتب" ځکه چی زه تر روښان او اخوند درویزه او خوشحال خان خټک وروسته په دې نزدو زمانو کی منشی احمد جان د پښتو ژبي یو زبردست نثر لیکونکی ګڼم. منشی احمد جان د پښتو نثر ته لوی خدمت کړي او ښه ښه لیکونه یې پریښي دي. په لیک کی د طبیعی ارتقاء مراتب هم سته وروسته یې چی قلم پوخ سوي او په لیک کی استاد سوي دي، نو یې د ملیسون د افغانستان انګریزي تاریخ[1] پښتو کړي او یو مغتنم اثر یې د پښتو نثر ته پریښی دی. په دې کتاب کی د ترجمې اثر نه دي ښکاره، او دا خو نو د لیکونکی پر مهارت او استادۍ ښه دلالت کوي، د مثال په ډول دا جمله وواياست:

"د نادر شاه په مړګ د پښتنو د لاس خپو غوځولو وخت راغی، کوم وخت چی دې ګټندو افغانستان واخست او د پښتنو خاص پوځ یې جوړاوه، نو د سدوزو قام سردار احمد خان نومی چی لا د ځوارلسو کالو هلک ؤ راوې غوښت او د مازندران علاقه یې ورته په حواله کړه..."

د نونسم قرن په نیمایي کی خو د افغانستان او انګریز جګړې او اړو دوړ، هم و، نو ځکه پښتو ژبه هغسی پاته وه، البته د پیښور پر خوا، ښه ښه لیکونکی پیدا سوه، مګر سبک خو هغه و چی منشی احمد جان ایښي و، تر دې وروسته د امیر شیر علی خان مدنیت پالونکی پاچا په توجه په افغانستان کی او هم د

۱. دا کتاب چی نوم یې «د افغانستان تاریخ له زړو زمانو څخه د ۱۸۷۸م تر جګړې دي» دوهمه پلا په لندن کی په ۱۸۲۱ چاپ شوی دی. مؤلف یې کلنل ملیسون نومیدی. تر منشی احمد جان دمخه مولوی احمد د تنګي په پښتو نثر کی د یادوني وړ اصلاحات کړي، چی تاریخ سلطان محمود، او ګنج پښتو یې د دغو هڅو ښې نمونې دي، او په نوې دوره کی د مشرۍ حق دی لري.

پیښور په خواوو کی د پښتو لیک څه نه څه عام شو، د هند او پیښور چاپخانې ډیري سوې، نو ځکه هر چا چی څه لیکل چاپیدل به!

د امیر عبدالرحمن په عصر کی څو پښتو کتابونه په کابل کی چاپ سول، چی له هغو څخه یو د هغه امیر خبري دي د هند له ویسرا او نائب السلطنه سره چی دفرین نومیدي. دا کتاب "سوال و جواب دولتی" نومیږي او د هغه مجلس رویداد دی چی امیر په راولپنډي کی په پنجشنبې ۱٦ د څلورمی خور ۱۳۰۲هـ د نائب السلطنه سره کړي دئ. لیکونکی ئې ملا غلام جان لغمانی دئ او د چاپ تاریخ یې ۱۳۰۳هـ کال دی. د دې کتاب لیک که څه هم سلیس دي، اما د ترجمې رنګ لري، او داسی ښکاري چی لیکونکی یې د پاړسو تسوید مخ ته ایښی او ټکی په ټکی یې لکه ځني اوسنی لیکونکی ترجمه کړي دئ! مثلاً:

"فقره دویمه: له دارالسلطنه د کابل څو کسه کاریګر هرفن لره لپاره د یادولو د هنرونو مقرره وم چی لندن وته تلی، هنرونه چی په کار د دولت خدای ورکړي افغانستان دي، او ترقی و جوړښت د دولت له هغو ځني حاصلیږي زده یې کاندي." (ص ۷۱)

سره له دغه چی لیکونکی یې د ترجمې تر اغیزې لاندي دي، مګر مطلب یې ښه ادا کړي او عبارات یې روڼ دي!

د امیر عبدالرحمن او امیر حبیب الله په وختو کی پښتو ډیره وه، ځنی خصوصی کاغذونه هم په پښتو لیکل کیده. هغه وخت چی په حبیبیه مکتب کی د پښتو لوست رسمی سو، نو مرحوم مولوی صالح محمد کندهاری څو کتابونه ولیکل. د ده د پښتو قلم خو ښکاره ښه قلم ؤ د ترجمې تکلف یې په لیک کی لږ دي. لومړی سړی دی چی د ښتو د نوي ژوندون په تحریك کي یې تر ټولو دمخه قلم اخیستی او کتابونه یې لیکلي دي، د ده د نثر نمونه:

«یو فقیر ته چا وویل: ډوډۍ له کومه کوي! و غاښو او نس ته یې اشارت وکړ ویل: هغه چا چې غاښونه او نس را کړي دي ډوډۍ هم را کوي.» (د پښتو دوهم کتاب ص ٥٦)

دا خو د استقلال تر جهاد دمخه د پښتو د لیک یوه نمونه ګوتې وه، وروسته چې د "پښتو مرکه" جوړه سوه او د پښتو د ژوندون تحریکات تاوده سوه د پښتو نثر ته که څه هم چا مخصوصاً توجه نه درلوده مګر بیا هم څه نه څه نثر لیکلی سوي او ځني نوشتې په اخبارونو او مطبوعاتو کی سته، او په دغو وختونو کی پیښور او د شرقی پښتونخوا پښتانه هم ویښ سوی او د پښتو منثور کتابونه او لیکونه خپاره شوي او په ځینی اخبارونو کی پښتو برخی ولیکلې سوې. د پښتو د ادبي نشاط مراکز په پیښور کی اسلامیه کالج او د وطن خواهانو ګونډونه دي. چې دا ډیر عمر په پښتون، آزاد پښتون، سرحد، خیبر او نورو اخبارونو او مجلو کی ښه منشور مضامین لیکل کیږي، او ډیر کتابونه او رومانونه او ډرامې په پښتو کښلي سوي او چاپ سوي دي. په دغو آثارو کی زموږ د پښتو ژبې د نثر پاخه او ښه ښه لیکونه سته، په اکثرو اخبارونو کی منثور لیک چې کیږي، سبک یې خوږ او ښه دي، د دغي خوا د لیکونکو مضامین چه موږ څه لیدلی دي غوره یې د ماسټر عبدالکریم او رسا او اسیر او کامل او حمزه او همیش او قاضی عطاء الله او اجمل او نورو... دي.

په پښتو نشریاتو کی د اتمانزو د پښتون اخبار ژبه ډیره سلیسه او خوږه ده. چې د هغې خوا د لیک او نثر غوره او لب لباب ګڼه سي. په دې مجله کی چې هغو پښتنو مضامین لیکل د پښتنو د پیاوړو لیکونکو څخه وو، پخپله د خان عبدالغفار خان د پښتو لیک خورا خوږ او روڼ او بې وله دئ. د پښتون د تاریخ لیکونکی مرحوم قاضی عطاء الله خان نثر هم غوره دي، ماسټر عبدالکریم خان چې د نننۍ دنیا پر سیاست څه لیکل هغه خو استادانه لیک و.

خلاصه دا مجله د هغو پښتنو د اوسنی غوره نثر نمایندګي له اتمانزو څخه کوی او خدمات یې پښتو نثر ته د منلو او ویاړلو وړ وو.

زموږ په وطن کی دننه خو چی تر ۱۳۱۰ش را وروسته د پښتو لپاره څه کار سوی دئ په دې ٤٠ کاله کی ډېر پښتو لیکونکی ومیندل سوه، ځکه چی هر کار په تجربه او مشق لوړېږي نو زموږ د لیکونکو د نثر لیکولو قلمونه هم ورو ورو ښه پاخه سوه، ځکه چی د دوی مورنۍ ژبه ده، نو یې لیک فقط لږه توجه غوښته.

دا وه د پښتو نثر ته یوه لنډه کتنه چی ما یې په لنډولو کی هم سعی وکړه. مطلب خو دا ؤ چی د پښتو د نثر مختلفي دورې او هغه څوک چی په دې لاره کی یې خدمت کړي دي وښوول سی، اوس به نو د پښتو نثر ته یوه تنقیدي او تحلیلی کتنه هم وکو. دمخه وایم چی دا فقط زما رأیه ده چی د سهوي او صواب احتمال لری که زه مصیب وم خو ښه تر ښه، او که می سهوه وکړه، پښتانه به می معاف کی او زما سهو به اصلاح کی، ځکه چی اوس موږ د ژبی د نثر لیکلو لاري پلټو. نو په دې مرحله کی دا لازمه ده چی ارأ ښکاره سی او افکار څرګند سی. چی ګوندی یو روڼ حقیقت تر دغه منځ وځلیږي.

# تحلیلي او انتقادي کتنه

زموږ د مقالې اصلي مطلب هم دغه دي، ځکه په دمخو برخو کې خو یوازې د پښتو نثر ته تاریخی لنډه کتنه وسوه او لږ لږ نمونې هم وړاندې کړه سوې. دا خو د مقالې زړه دئ، خدای دې وکی چې زه یې سم ولیکم:

د پښتو ژبې لمړنی د نثر آثار چې دمخه وښوول سوه د دې ژبې له جوړښتې نثر څخه ډېر لرې او پر بله خوا اوښتي دي. پیر روښان او اخوند درویزه او د دوي د نثر مکتب شاګردان چې ټوله پر یوه لار تللی وه، زما په خیال دوي د خپل سبک په غوره کولو تر یوې اندازې مجبور وه، دوي قصداً خپل نثر د نظم په رنګ رنګاوه ځکه چې دوی مبلغین وو، او تر انشا یې د تبلیغ او تلقین پله درنه وه. دوی غوښته چې ځني دینی مطالت پښتنو ته تبلیغ کی، او خپل دښمن د تبلیغ په مرسته مات کی. ځکه چې غلیم د شعر او نظم له خوا تبلیغ کاوه نو دوی هم غوښته چې په هغه ډول وسله د ده سره مقابله وکی.

دا یوه تاریخي مسئله ده او پلټنه یې هم د تاریخ په مخو کې کیداي سی. د هجرت د زرم کال (۱۰۰۰هـ) شا او خوا چې په هندوستان کې د مغولو د کورنۍ د پاچهانو برم و، د هغه عصر مدنیت او ثقافت ډېر نوي شیان وزیږول. لکه په بغداد کې چې د عباسیانو د خلافت برم او جلال مستظرفه صنایع او شعر او ادب او فن او فلسفي افکار او مذاهب خپاره کړه، او هغسی هم تر دوی وروسته د غزنوی ټولواکانو او د محمودي شاهنشاهي عروج او لوړتیا بیا فنون او صنایع او علم وروزله. په دغه ډول د هند د مغلو امپراطوری هم په هند کې نوی ثقافت او مدنیت وموند، او نوي افکار او فلسفي ارا یې ژوندي کړه.

که څوک تاریخ وګوري د عباسی خلافت په دوره کې شام او عراق او بغداد او ایران ټوله په نوو فلسفي او علمي افکارو ډک وه، حتی د خلفاوو په دربارو کې پر نوو فلسفي خبرو بحثونه کیده. د اعترزال فرقی خو په دې دوره

کې وده او لوېښت وکړ، فلسفي آرا او عقايد هم په دغه دوره په بغداد کې روزل کېده. وروسته چې غزنی د ایشیا علمی او سیاسی مرکز سو نو دغه علمی او فلسفی او فنی تحریکونه کټ مټ دلته راغله. د البیرونی او ابن سینا علمی او فلسفی آثار خو موږ ته د دې ثقافت، فلسفی او علمی اړخ ښه را ښکاره کوي. دا دوره خو د باطنیه او قرامطه فرقو د نشاط دوره وه، سلطان محمود څو واره د دوی سره جګړې وکړې. د غزنی دغه فلسفی او علمی او فنی نهضت خورا وروسته د چنګیز خان په هجوم ورک سو. مسلمانان په وینو کی ولغښته، مګر څو پیړۍ وروسته په هند کی د مغلول شاهنشاهی بابر تأسیس کړه. د مغولو د امپراطوري د ثقافت خښته لا دمخه پښتنو ایښې وه. د لودیانو او د سوری شیر شاه پښتون د مدنیت او ثقافت ژوندی آثار مغولو ته پاته سوه. نو ځکه دوی هم هغه ثقافت وپاله ژوندی یې وساته. علوم، و فنون، صنایع، ادبیات او فلسفی افکار بیا لکه بعداد او غزنی د ډهلی څخه خپاره سوه. که د بغداد او غزنی د نفیس صنعت آثار د زمانې انقلابونو نه واي وران کړي نو به اوس لکه د ډهلی او اګرې شاهي ماڼۍ د تعمیر د فن ښکاره آثار موجود واي او دنیا به ورته حیرانه واي. خیر! خو مطلب دا دي چی د مغولو د ثقافت سره علم او فلسفې او ادب هم بیا عروج وموند. د مغولی اکبر دربار لکه د منصور او هارون او مامون دربارونه له علمی او فلسفی افکارو ډک و. په دغه تاریخی څیړنه کی مو مقصد دا دي چی هره زمانه بیل ثقافت لري او هر ثقافت ځان له دینی او فلسفی افکار هم لري. نو ځکه د بغداد او غزنی د ثقافت عروج چی ځینی افکار او آرا خپاره کړي وو، دغسی هم د ډهلی د مغولو د شاهنشاهۍ سره ځنی نوی اندیښنې او نوی فلسفی افکار پیدا سوه.

پښتونخوا خو هندوستان ته ور څرمه ده. هر حرکت که فلسفی و، که علمی چی هلته به کیدئ، پر دې خوا یې آثار ښکاره کیده، بلکه د اباسین مغربی غاړي او د ښتونخوا غرونه چی د هند د امپراطوری له تسلطه لیري وه،

د اکثرو فلسفی او سیاسی تحریکونو مرکز هم ؤ. که تاسی د اخوند درویزه پښتو مخزن او تذکرة الابرار وګورئ ډېر داسي خلک په دې خواوو کی ښیی چی ځانله بیلی عقیدې او مذهب لري، او ټوله یې په تبلیغ بوخت وو. دغو ټولو تبلیغی حرکاتو کی د روښان پیر فلسفی او مذهبی حرکت مهم ؤ. دا سړی ځانله بیل مسلک لري چی د فلسفی او تصوف رنګ یې غالب دي، نو د دغو تحریکونو په مخ کی خو د علماوو تبلیغ او مقابله هم طبیعی وه. ځکه نو موږ د هغه دور اکثر آثار چی پښتنو علماوو کښلی دي تبلیغی وینو چی دوی د مخالفینو زدکړي یا یې ځینی دینی مسایل څرګند کړي دي.

موږ دمخه ولیکل: چی روښان او درویزه او د دوي د مکتب شاګردان خو د پښتو د نثر په دغه غوره کړي سبک کی تر یوې اندازې ناچار هم ؤ. سبب یې دا ؤ چی هغه وخت څه په هند څه په پښتونخوا کی خلکو شعر او نظم ډېر خوښاوه. نو روښان پیر او نورو ټولو د خپلو مطالبو تبلیغ په نظم کاوه، اخوند درویزه پخپله کاږي چی تاریک پیر پښتو شعر وایه، نو ځکه ده هم د هغو سره په پښتو شعر مقابله وکړه.

"و او بان افغانی شعر میگفت و سبب شرایع و علماء میکرد و شعرهای لایعنی به افغانان مینمود پس این فقیر بر خلاف او شعر افغانی اغاز کرد حتی در شاعری قدم ازو پیشتر نهاده و اکثر خلق را از متابعت او باز آورده..." (مخزن قلمی)

بل ځاي پخپله اخوند درویزه خپل عذر هم وایي:

"بدان ای عزیز که در اشعار افغانی شعرأ ایشان چندان مبالغه در فصاحت و موافقت در قافیه و تطبیق مصراعین در حروف و کلمات رعایت نداشته اند و هم از انرو که فقیر را دغدغۀ شعر و شاعری نبوده تا دران سعی نماید. مگر اینقدر که اندک، و پیش سخن موزون گردد تا سامع را لذید نماید." (مخزن)

د اخوند درویزه د سبک د غوره کولو لوي سبب خو هم دغه ؤ، چی ده او نورو ملګورو یې نیم منظوم اشعار وویل چی اوس یې موږ نثر ګڼو، خو کړکیچن او بې خونده!

دا خو تقریباً یو طبیعی سایق ؤ او د پاړسو او عربی ژبو د مرسل او فنی نثر اثرونه هم په دماغو کی وه. نو ځکه د پښتو لومړی نثر هم مسجع او مقفی سو، چه هغه د پښتو حقیقی غیر متصنع اهلیت او خوږوالی نه پکی لیدل کیږي. د مخزن او فوائد الشریعة او بابو جان ژبه خو پښتو ده اما دا ژبه طبیعی هم نه ده، بلکه په تکلف جوړه سوې ده، په داسي ځایو کی چی د پښتو ژبي مروج او کارامد لغات او کلمات وو، بې ځایه او بې موقعه تصنعاً پاړسی او نور کلمات مستعمل سویدي، سړی چی وایي لیکونکی د پښتو ژبي د کره کلماتو د ورکولو اراده درلوده، او پښتو یې د نورو ژبو سره ګډوله.

دا ښکاره ده چی پښتو دغسي یوه مصنوعی او ګډه وډه ژبه نه وه، اما تش د لیکونکی قلم هغسي پر بل ډول را واړوله. په هغه دوره کی خو د منځنۍ ایشیا په ادب کی خلقو د مسجع او مقنی لیکنو ته په درنه سترګه کتل، نو هغه لوړ ذکر سوي عوامل چی موږ تحلیل کړه، او دغه عمومی خوند چی د پاړسی د وصاف او تاریخ معجم او شمسه وقهقه له سبک راغلي و د روښان او اخوند درویزه د مکتب جوړه سوې ژبه یې وزیږوله، او په نثر کی یې داسی سبک را ګډ کی، چی د ژبی سپیڅلی فطرت کورټ نه مانه! تر دې وروسته خوشحال خان پښتو ته خدمت وکړ، یعنی د نثر او نظم تر منځ یې حد وټاکئ نظم یې پخپله دایره کی وروزه، او نثر ته یې بیله وده او لویښت ورکړ.

د خوشحال خان د مکتب نثر خو لږ خوږ او نسبتاً سلیس دي د زړپي محاورات او خصوصی مصایا ډیر ځله پکی ساتل سوي دي مګر سره د دې ځني معایب لري یعنی د ښه خوا یې ډیر او عیوب یې نسبتاً لږ دي.

د دې مکتب شاګردانو که څه هم د پردو لغتو او کلماتو په استعمال کی افراط ندئ کړئ، او بیله مینه یې نه ور سره درلوده مګر سره د دې هم دوی کله کله پردي کلمات بې ځایه استعمال کړي دي، یعنی که څه هم پښتو سوچه کلمات مستعمل وه، مګر دوی نه دي راوړي، او کله کله د پردیو ژبو د ترجمې تر اثر هم ښه لاندي دي.

د منشی احمد جان پیښوری (متوفي ۱۳۳۰هـ) مکتب له دې عیوبو پاک دي ډیر لږ بلکه ندرتاً د پښتو خپل خصوصی طرز پریږدي، جملې په داسي ډول ادا کوي چی د پښتو له فصاحته نه وزي. اجنبي لغات لږ لږ استعمالوي او بې ځایه او بې اړتیا به خورا لږ ده پردۍ کلمې لیکلي وي! نو پر طبیعی سیر سم د پښتو نثر په خپلو څلورو دورو کی تدریخي ارتقأ او سمون میندلي دي. د سلیمان ماکو نثر طبیعت ته نژدې و، روښان او درویزه نیم منثور آثار ولیکل. د خوشحال خان مکتب نثر او نظم سره بیل کړه. د منشی احمد جان مکتب د پښتو د حقیقی او خواږه نثر تیره ټینګه کړه، اوسنی نثر لیکونکی خو هم ډیر او غنیمعت دي. مګر ښایي، چی موږ په نثر کی ځینی اساسی خبري هیري نکړو زه به لاندي ځینی د نثر لیکلو ضروري مواد د مثالونو سره ولیکم:

۱ ـ لومړی اصل دغه ؤ چی د پښتو تحریر او تقریر یعنی ویل او لیکل سره یو وي یعنی موږ د خپلي ژبی لیک او لوست د نورو په تقلید سره بیل نه کو. د پیاوړي لیکونکی لیک تل د ژبي پر فطری او اصلی لار سم وي. مثلاً: دا جمله چی د پښتو یوه پیاوړی لیکونکی کښلی دي تاسی یې وګورئ چی پښتو د خپل او خصوصی ډول سره څنګه سمی او په عین دغه صفت کی څومره صلابت او خوږوالي لري:

"د یو ملت په ژبه کی که هر څومره د بل ملت ژبه نفوذ پیدا کړي، هماغومره سیاست، اقتصاد، اجتماعیات، ملی اخلاق، ملی اداب، ملی

عادات، ملی رسومات او ټوله ملي خصائص او عنعنات، تر دې چې ذهنیت، افکار، معاشات او تهذیب ټول یې د ژبی او الامت تابع کیږي.... نو که د یوه ملت ژبه د بل ملت ژبی ته مغلوبه شوه ګڼه دغه ملت په دغه پاسنیو ټولو خصائصو کی ورته پړ سو...“ (د کابل سالنامه ۱۳۱۸)

تاسي ګورئ موضوع خو داسي ده چی طبعاً باید ډیر عربی کلمات استعمال سی ځکه چی اوس سملاسی یې موږ په پښتو مقابل نه وینو اما د کلام صلابت او لوړتیا د پښتو سره سمه ده، او د پردو کلماتو ډیر استعمال د پښتو رنګ ندی ور کرغیږن کړي. دا خو د لیکونکی په پښتنی او علمی او قلمی استعداد اړه لري، چی خپل کلام هیڅکله د نورو ژبو په رنګ و نه رنګوي! په دې لوړو جملو کی که څه هم مثلاً د (نفوذ پیدا کړي) پر ځاي (نفوذ ومومی) او د ملي رسوماتو پر ځاي (ملي دودونه) نسبتاً پښتو کلمات وه، مګر د کلام روح خو پښتني دي، نو ځکه دي اهمال ندي معیوب کړي، اوس به نو وګورو دې جملې ته:

(...خپل نظر هغه د سرمیزي ساعت په لوري واچوه چی د ده د میز په یوه خوا کی ایښي و، او ویی لیده چی نژدې غرمه او یولس بجی او بس فقط هغه وخت دي چی دی باید خپل دوهم سګرېټ وڅکوي او پخپله ارام چوکۍ باندي یې تکیه لګولې د اور لګونی مخصوص قطع سره یې خپل سګرېټ ته اور ورته کړي او په څکولو یې لګیا شو.)

په دې جمله کی لیکونکی د ترجمې له اغیزي څخه ندي وتلي، تر دې اندازې چی لمړي جمله یې تقریبا د پښتو د کلام له ډوله لیري ده، ولي چی (نظر اچوي) عیناً د نطر افګندن ترجمه ده او (هغه) هم بې ځایه استعمال شوي دي، دغه جمله د پښتو د خبرو سره سمه باید داسی واي:

(...خپل هغه سر میزی ساعت ته وکتل چی د ده د میز پر یوه خوا پروت و). او بل (واچوه) خو امر حاضر دي. ماضی مطلق یې (واچاوه) ده او په

دوهمه جمله کی فاعل نه دی معلوم. نو وروسته باید (مالم لیسم فاعله) فعل په مجهول ډول ذکر سي یعنی داسي: (چی د ده د میز په یوه خوا کی ایښو سوي یا پروت و). او که فاعل ور معلوم کو نو به داسي سمه سي: (چی ده د میز پر یوه خوا ایښي ؤ) دلته به یې نو (ده) فاعل سي. اما بیا هم (په یوه خوا کی) دا معنی لري چی ساعت دننه په میز کی و. حال دا چی ساعت دننه په میز کی نه ږدي، بلکه د (میز پر یو خوا پروت وي) یا (د میز پر یوه خوا ایښو سوي وي) په پاي کی دا جمله (د اور لګوني مخصوصی قطع سره یې خپل سګریټ ته اور ورته کړي) که څه هم لیکونکی یوه خورا ښه کلمه (اور لګوني) دلته میندلی او استعمال کړیده چی د قدر وړ ده. اما په پښتو کی (سره) د معیت معنی افاده کوي، مګر په هغه وخت کی چی (په) یې دمخه رایسي. هلته نو البته تعدي ځني مطلب وي مثلاً: (د اورلګیت سره یې خپل سګریټ ته اورته کئ) نه ویل کیږي، او دا معنی ورکوي: اورلګیت او سګریت دواړو اور واخیست نو ښایي چی داسي وویل سي او ولیکل سي:

(په اور لګوني مخصوصي قطعې یې خپل سګریټ ته اور ورته کړ...) دلته که سره ذکر نسي هم ښه معنی ور کوي، نو لکه تاسي چی ولید له دغه جمله هغسی نده چی لیک او ویل دي سره یو وي! نو ئې د پردۍ ژبي رنګ اخیستي دي او د پښتو ښیګړي یې بایللي دي!

۲ـ د پښتو نثر دوهم مهم عنصر دا ؤ چی د لغاتو او محاوراتو په غوره کولو کی د ادبي غورو موادو پلټنه وسي، او هغه افضل وګاڼه سي، چی د ژبي د اصلی ښیګرو سره نښتون ولری او حتی المقدور د پښتو سوچه او کره لغات مستعمل او رواج سي، مثلاً په لوړو جملو کی ښاغلی لیکونکی د پښتو یواله (اور لګونی) په ښه ډول استعمال کړي دي، چی هم یې سرې ژر په معنا پوهیږي او هم پښتو دي. چی پخوا په پښتو کی دغسي نه و مستعمل. داسي مواد که څه هم اوس په فردی حیث ولیکل سي مګر وروسته خپریږي او ورو

ورو منل کېږي! مګر داسي کلمات باید مستهجن او مکروه نه وي او د ژبي اصلي ستي سره سم او د پوهي وړ وي، مثلاً لیمو نادیا سوډا چی په ګیسي بوتل کی وي، یو چا د بوتل د سر ماتولو د ږغ په تقرب (ټس اوبه) یا یې مثلا طیاره په پښتو (ساه بیړۍ) بللی ده. لومړۍ کلمه خو ډیره مکروه او دوهمه کلمه هم د ژبي له اصلی استعماله لیري ده. ځکه چی (ساه) په پښتو پر عمومي هوا نه اطلاقیږي بلکه صرف نفس ته وایي خیر! دا بحث خورا اوږد دي په یوه بیله مقاله کی ښایي چی له هري خوا وپلټل سی!

**۳ـ** نثر خو به اساساً دوه ډوله وي:

لمړی دا چی د لیک موضوع د بل چا وي او لیکونکی یې تش ژباړه کوی دا ژباړه اسان کار نه دي، او کله ترجمه د ځان تر لیکنی زور غواړي، لکه دمخه مو چی ویلي وه په ترجمه کی دا لاندي ابتدایی خبري ضروري دي:

الف: د ژبي خپل جوړښت ساتي، او خپله ژبه د پردۍ ژبي تر اغیزي نه لاندي کول.

ب: حتی المقدور خپل کلمات لیکل او له پردیو څخه ژبه ژغورل.

ج: د ژبی خصوصی محاورات استعمالول.

د: د جملو او فقرو په داسي ډول سره نښلول چی ویونکی دا خیال و نه کی چی مضمون ترجمه سوی دي.

هـ: تحت الفظ ترجمی نه کول.

و: د عباراتو او جملو ساد ګی او بساطت.

ز: پریکړې او سره بیلی جملې لیکل، او معترضی جملې له منځه ایستل.

ح: هغه اوږدې جملې چی ویونکی یې په مبداء او خبر کی ورکیږي، پر کوچنیو جملو ویشل او مطلب ښکاره ادا کول.

ی: د ژبي صلابت او فطری متانت ساتل، یعنی د پردیو ژبو په ډول ډیر پاسته الفاظ نه لیکل او صرف په تقلید د ژبي آهنګ نه ورانول، ځکه چی هره

ژبه د خپل ملت له سایکالوژی سره سمه د کلماتو انسجام او اداء، مخصوص طرز او آهنګ لري.

دوهم: هغه نثر دي چی سړی له ځانه کوم مضمون لیکی. دا خو د مقالې لیکلو فن دي چی ډیر اهمیت لري او د ادبیاتو لویه څانګه ده. د مقالې لیکلو فن خورا ګران دی، لکه انځورګر (رسام او نقاش) چی یو شی په خورا ښه ډول انځور کوي چی د طبیعی او مصنوعی فرق یې سړی نسي کولاي.

دغسی هم مقاله لیکونکی یوه معنا او مضمون په داسي ډول لیکی چی ویونکی یې لکه لیدونکی وي، یعنی هغه خوند چی یوه موضوع کی سړی په لیدلو او مشاهده اخیستلای سي، ښایي د مقالې له ویلو یې هم واخلي، دا خو د مقالې د لیک اساسي تیره ده، د عربو په اصطلاح د مقالو لیک یو سهل ممتنع فن یعنی اسانه او ګرادن دي.

اسان له دې کبله دي هر څه چی زموږ په فکر کی وي یا یې په خوله وایو کټ مټ به دغسی ولیکو! اما ګران خو هم دي ځکه ښایی چی سړي خپل مطلب او د زړه خبره په داسی الفاظو او عباراتو ولیکی، چی ویونکی بې له هیڅ تکلیفه په وپوهیږي او له ویلو څخه یې خوند واخلی.

په اروپا کی بیل مکتبونه سته چی دا کار د یوه بیل فن په ډول پکی زده کوي. دا فن پر فطري استعداد او لیاقت زیاتی، مشق او مزاوله هم غواړي. هر د معلوماتو خاوند یا لیکونکی سره مضمون نسی کښلاي.

په پوهانو او نومیالیو حکماوو کی چی دوی ښه علم او حکمت درلود او ژبه او ژبه ور خلق وو ډیر داسی وو چی د لیک قلم یې نه درلود،، او ډیر ښه لیکونکی بیا وو چی ژبه یې نه درلوده، هغه چی یې په قلم کښلاي سواي په ژبه یې نسواي ویلاي.

د انشاء دپاره خو ځینی مثبت قواعد او لاري سته، چی زموږ زوړ علم او ادب په ډک دي، مګر د دې زمانې لیک او انشاء د پخوا سره ډیر فرق لري.

پخوا لیکونکی زیار کیښی چی عبارات یې ګران او درانه او ګنجلک وي په قافیو او سجعو پسې به ګرزیدئ. مرسل او فنی لیک یې د ځان کمال ګاڼه، کله به د ګرانو لغاتو او کلماتو په استعمال دومره ګرندي سو، چی مطلب به ځنی هیر ؤ. که موږ د وصاف او د میرزا محدی او بیدل لیکونه وګورو، دا به ښکاره سی چی دوی په څه لایزار ماغزه ستړي کړي او په اغلاق افرینی کی تر کومه حده ځغستلی دي؟ که د دوي مطلب د تاریخ لیکل وه، هغه خو په سمو او ساده الفاظو هم لیکل کیدي او مطلب لا ښه ځنی څرګندیدئ؟

اما لکه چی دوي فقط یوه زمینه د خپل لیاقت د څرګندولو دپاره غوښته، تاریخ لیکنه یې ضعتی او اړخکی مطلب و. اصلي مقصد یې د خپل لغوي استعداد او اشکال تراشۍ ښکاره کول ؤ! د اوسنۍ زمانې نثر خو له پخوا سره خورا ډیر فرق لري. د الفاظو ځینی ضروریات خو مو دمخه ویښوو. اوس به نو د مضمون لیکلو په اصل او روح کی هم لږ څه فکر ووهو. د نثر تر لیک دمخه دا لازمه ده چی لیکونکی وګوري چه زما لیک د چا دپاره دي! او څه نتیجه ځینی اخلم! لکه یو معلم چی د څپلو شاګردانو پوهنی او د دوی فکر ته ګوري. وروسته نو خبري ورته کوي. دغسي هم ښایي چی د مقالې لیکونکی د خپلو ویونکو فکر او پوهنه ووینی وروسته نو د هغی سره سم لیک وکی!

نثر لیکونکی ښایي چی لومړي پلا د خپل لیک موضوع له ځانه سره وسنجوي او ښه فکر ووهی چی زه څه لیکم! او دغه مطلب په څه ډول وکاږم! نو به ښه او اغیزمن وي، د لیک ترتیب، عبارات، د جملو سره نښلول او د مطلب د لیکو ډول ښایی چی دمخه لا د لیکونکی په ذهن کی وي. وروسته نو قلم را واخلی او مضمون ولیکی.

پښتو خو خورا ساده او سپیڅلې ژبه ده. هیچ تکلیف او تصنع نه منی، په لیک کی یې فقط لیکونکی ته دا وړ ده چی خپل فکري موضوع په ساده او بې ولو الفاظو ولیکی لکه چی یوه خبره په خوله کوي. ګټ مټ یې په قلم هم

وکاږي. هر مطلب بیل وي، الفاظ يې صریح الدلالته وي. مغلق کنایات او تشبیهونه اوګډ وډ تلازمات د پردیو ژبو په تقلید نه وي پکی، چی مطلب يې په لیک کی ښه روڼ سي.

متأسفانه اوس پښتو لیک ډیر د نورو ژبو تر اثر لاندي سوي تر دې اندازې چی سړی يې په مطلب نه پوهیږي هغه جراید چی پښتو لیکی یا هغه خبرونه او مقالې چی په هوايې څپو کی خپریږي داسی ترجمه کیږي چی اکثر يې سړی پښتو نسی بللای. یوه ژبه ده چی نوې جوړیږي او ډیر عجایب لري او که يې پښتانه واوري نه په پوهیږي او له خارجی ژبو څخه داسی ناوړه عبارتونه پکی را ګډیږي:

- رول لوبوي: یعني څه؟ دا کومه او د کوم ځاي پښتو ده.
- نقش پر غاړه لري، دا څنګه پښتو ده؟
- ریاست يې پر غاړه و. څنګه؟
- تصمیم يې نیولي دي، څنګه؟ تصمیم څه شی دي او څنګه نیولی کیږي؟
- تماس ونیو یعنی څه؟ او که يې طرف ښځه وي نو...

یو لړ خبري، یو لړ معلومات، یو لړ مکتوبونه، یو لړ هر څه ... دي ته په پښتو کی ضرورت نسته. یو څو خبري، یو څه معلومات یو څه مکتوبونه کافی دي. دا د (یک سلسله) ناوړه ترجمه ده او د پښتو د ګلونو په لړ کی لکه یو اغزي.

د ورځی له پلوه د شپې له پلوه دا هم د ترجمی ناوړه اثر دي (از طرف صبح یا از طرف شب).

په پښتو کی د ورځي او د شپې کافي دي له پلوه نه غواړي، وایي: د ورځی باران وسو او د شپې کور ته ځم.. له پلوه زاید او ناوړه دي.

تر څو چی؟ اکثرو ځایو کی (تر څو) ته ضرورت نسته پخپله (چی) بیانی مقصد افاده کوي.

له (امله)؟ پخپله دا کلمه (امله) مجرده نا مستعمله کلمه ده او که هم وي نو مفغنه ده (له عمله) دا باید په هر ځاي کی ونه نښلوله سی اوس یې دونی تعمیم کړي دي، چی نه ښایی، دا اوس لکه د یونانی طبیبانو بدرقه داسی ګرزیدلی ده چی په هره دوا یې ګډوي. پلانی مامور د پلانی کار د کتنی له پاره نه ځي د کتنی له امله ځي.

که پر آسمان یو لړ اوریځي پیدا سي نو به له دې امله باران واوري. په دې جمله کی ضرور نده (نو به) هغه تعلیلی مطلب په ښه ډول افاده کوي او دا جمله داسی اضافه پښتو ده چی وویل سی: سبا به پر آسمان یو څه اوریځی را وخیژي نو به باران واوري.

پاملرنه؟ دا نوې جوړه کړې کلمه هم خورا بي ځایه ډیره استعمالیږي په راډیو کی اورو: پاملرنه وکړئ یا: پاملرنه را ګرزوو چی د دوي په ژبه د (توجه کنند) یا (توجه را جلب میکنم) ترجمه ده. مګر داسي پاملرنه په پښتو وینکو خلکو کی نسته دوي وایی: پام کوه، پام ورته کوه، پام پسې کوه، پام پر کوه.

دپاره؟ مثلاً د څلرم ځلي دپاره چی کټ مټ د (برای نوبت چهارم) ترجمه ده، دلته په پښتو کی دپاره زاید دي، لکه: پلار زوي ته څلرم ځلي وویل. دلته داسي نه وایو: چی د څلرم ځلي لپاره یې ورته وویل.

منل: پلانی سړي پهلوانان ومنل یعنی پخپل حضور کی باریاب کړل. دغه منل هم د (پذیرفت) ناقصه او ناوړه ترجمه ده او څوک یې په دغه نوی معنی نه پوهیږي. تر محاکمی لاندي ونیول سو، چی د (تحت محاکم گرفته شده) ناوړه ترجمه ده او د پښتو ژبه نده دلته باید داسی وویل سي چی محاکمه کیږي. یا به محاکمه سی، یا محاکمه پر چلیږي.

یوه اندازه اوریځ به پیدا سی. دلته پښتانه وایي یو څه اوریځ به را وخیژي. یوه اندازه فقط د (یک اندزه) ناوړه ترجمه ده. یو شمیر د یک تعداد ناوړه او زموخته ترجمه ده یو شمیر خلک یو شمیر کتاب یو شمیر هر څه او هر څه دلته پښتانه وایي. یو څو خلک یا یو څه خلک یو څو کتابونه یا یو څه کتابونه یو څه یې ورته وویل، یو څو خبري یې وکړې، دا کوم یو پښتون وایي: چې یو شمیر خبری یې وکړې. پخپله شمیر او شمیرل د تعدد طبیعت لري یو څنګه شمیرل کیږي! چې تر یوه زیات وي بیا یې نو شمیر ممکن وي دا ناوړه ترجمه د انسانی منطقه هم لیری ده.

نقش: دا کلمه هم د ایران له مطبوعاتو څخه راغله او اوس په دواړو ژبو کی بې تحقیقه داخله سوه. (نقش بازی کرد) په نقش ولوباوه ترجمه سو یا مهم نقش لري چی د (نقش هم دارد) ترجمه ده. نقش چی عربی کلمه ده دغه معانی نلري او ناحقه په پښتو را ګډ سو. په پښتو کی باید وویل سی: لویه برخه پکی لري یا لوي لاس پکی لري.

(دران قضیه نقش مهمی بازی کرد) دا خو د اصلی ژبی تعبیر هم ندي مګر په پښتو دغه مطلب بل راز ادا کیږي: په هغه شخره کی لاس واهه، شخره یې وشلوله، پر هغی شخړي یې ډیره اغیزه وکړه... کله کله چی زه د بښتنو سره د دغو ناوړو خبري کوم له ما دا پوښتنه وسی چی ښه دغه لوړ او عالی نثر چی تاسی غواړي څنګه او کوم او چیري دي؟

زما ښه په یاد دي چی څلویښت کاله دمخه په پیښور کی د پښتون مجلی او نورو لیکوالو دا خبره څیړله چه پښتو څنګه ولیکو او کوم نثر ښه دي؟ پر دې خبره باندي ډیرو خلکو څه وویل یا یې ولیکل.

خو د دغو ټولو خبرو نتیجه دا وه: پښتانه چی په کومه لهجه او توګه په خپلو حجرو کی خبري سره کوي هغه معیاري لهجه ده او باید پر هغه اساس څه وکښل سی.

زما په خیال د پښتو لپاره یو تخیلی او حقیقی (معیار) ټاکل د اوس کار ندي او نه دا کار یو یا دوه تنه کولاي سی.

معیاري لیکنه هغه وخت ټاکل کیداي سی چی د پښتو له ټولو لهجو څخه د اجتماعی او مدنی اختلاط او ادبی ګډون او تفاعل په اثر کی یو (معیار) را ووزی او دا هغه وخت ممکنه ده چی پښتانه له قبیلی ژونده ووزي او تګ او راتګ دونی پکی ډیر سی چی ټولي لهجې او خصوص تعبیرونه او اداوي او ګرامري خصایص سره ګډ سی او د (بقای اصلح) له قانونه سره برابر، ناوړه ووزي او (وړ) پاته سی.

اما هغه چی د پښتون مجلې لیکوالانو د حجرو پښتو بللی او غوره کړې وه مراد یې دا دي (په کومه پښتو چی د کلیو خلک پوهیږي او په هغه خبري کوي). اوس باید لیکوال فقط دا خبره هیره نه کړي چی دوي د عامو پښتنو سره خبره کړي او باید په داسی ژبه څه ورته ووایی چی دوی په وپوهیږي.

زما په خیال بهترین نثر هغه دي چی د خلکو له خبرو سره برابر وي او که لیکوال ناچاره سی چی د یوه علمی یا اجتماعی مطلب لپاره کوم علمی تعبیر او اصطلاح استعمال کی چی په پښتو ساري نه لري، نو باید هغه هم د پښتو د اصلی قاعدې او ګرامر سره برابره وی او د ژبی په خپل قالب کی ښه اچولی سوي وي او که په مختلفو لهجو کی ډول ډول اصطلاحات او تعبیرونه وي باید لیکوال دونی ادبي ذوق او د ټاکنی قوت ولري چی تر ټولو ښه وټاکلاي سی. مثلاً (را په څټ سو) یا (راستون سو) یا (راوګرزیدئ) په دې درو تعبیرو کی د معنا د اصالت په لحاظ دوه وروسته باید غوره وي. ځکه چی په څټ کیدل یو مرکب او مجهول تعبیر دئ چی له (څټ) څخه جوړ سوي دي، مګر ستنیدل، ګرزیدل د دغه فصل لپاره دوه اصیل نومونه دي نو ځکه باید غوره وي.

# د پښتو د نثر وده او په ليکنه کی د غور وړ خبري

هره ژبه لکه نور ژوندي مخلوقات پخپل ژوندانه کی د زمان او مکان تر اثر لاندي نشو و نما کوي. اجتماعی او سياسی او روحی عوامل ژبو ته يا وده ورکوي يا ېي ځبي، يا يې له منځه باسی او وره کوي يې.

زمانه چی کومی اقتصادی او اجتمعاعی او سياسی او ښتنی او انقلابونه پر انسانانو باندي راولي يا جغرافی سيمی، او مکان چی کوم خاص کيفيتونه د اقليم او هوا او لوړي ژوري له پلوه لري، او يا کومه خاصه سيمه د تجارت او لښکري تګ راتګ لپاره، يا د انسانانو د ډله ئيز انتقال له پلوه ځانته اهميت لري، دا ټول هغه سببونه دي، چی ژبی ژوندۍ کوي، يا يې وژنی، او کله په تاريخ کی داسی ديني او اقتصادي او اجتماعي حرکتونه هم وينو چی د يوې ژبی د تفوق او خپرونی لپاره په ډيرو ليرو سيمو کی وسايل برابروي، او د انسان د ژوندانه اقتصادی چاري هم د ژبو سره ښکاره او غټ اړيکی لري.

مثلاً د يونانی ژبی او ليک دود خپريده په ټولو منځنۍ اسيايی سيمو کی د سکندر او د ده د جانشينانو د سياسی او جنګی اقدام نتيجه وه، چی اوس يې موږ ډير ليکونه او ښکاره فرهنګی اثرونه په ايران او افغانستان او ټکسيلا او ماوراءُ النهر کی تر التاتی پوري وينو او په بغلان او ای خانم کی د يونانی ژبی او رسم الخط آثار را ايستل کيږي.

دغسي هم په تاريخ کی وينو، چی عربی ژبه د اسلامی عقيدې سره يو ځاي په اکثرو اسيايی او افريقايی مملکتو کی داسی خپره سوه، چی تر لس قرنه د دغو سيمو علمی او فرهنګی او ادبی ژبه وه، او تر اوسه لا هم په ځينو سيمو کی دغه مقام لري.

اوسنۍ پښتو ژبه هم تر دغه قانون لاندي دا دوولس سوه کاله په پښتنو کی د خبرو او ادب او ليک ژبه ده، او اوس هم د افغانستان رسمی ژبه ګڼله کيږي.

مګر په پخوانو زمانو کی د اجتماعی او سیاسی عواملو تر اثر لاندي پښتو ته داسي موقع نه و حاصل سوې، چه په هغه ډول وده او لويښت وکی، لکه يوې ژبی ته چی ښايي ده. ځکه چی د دربار او دفتر او ادب او فرهنګ ژبه یا عربی وه یا دری، او پښتنو پوهانو او لیکوالو که به هم قلم اخیست نو به دوی په عربی یا دری ژبه تألیفونه کول. کتابونه به یې لیکل او شعرونه به یې ویل، چی تر اوسه لا هم دغه سلسله جاري ده او د افغانستان د دری ژبي لوي لیکوال او شاعران پښتانه دی، او حقیقت هم دا دي، چی پښتو ژبو افغانانو پښتو او دری دواړي خپلی ژبی منلی او روزلی یې دي، او که پښتو غواړي، نو دا هم د اوسنی ژوند، یو مثبت تعلیمی او فرهنګی او ملی ضرورت دي.

زموږ د فکر او اندیښني پیدایښت او لويښت په داسی فرهنګی چاپیر کی سوی دئ چی د پښتو او دری ادبی روایات یې دوې تکڼه پائی دي، لکه خوشحال او رحمان چی زموږ د ثقافی ماڼۍ معماران دي. دغسی هم سنایی او جلال الدین بلخی او جامی پیژنو، او د دوی له ادبی تخلیقاتو سره ټینګه روحی علاقه لرو.

پښتو ژبی په داسی ثقافی محیط کی نشو و نما کړې ده، چی له فکری پلوه یې ادبیات ډیر د دری ادب سره مشترک منابع او هدفونه لري، او له دې جهته یې ډیر کلمات، تعابیر او اصطلاحات سره ورته دي، او که موږ د یوه پښتانه شاعر دیوان را واخلو، نو دي په سل کی اویا هغه کلمات او مصطلحات استعمالوي چی په دری ادب که هم سته.

د پښتو ژبي د نشو نما علل او ادبی تخلیقاتو منابع یې داسی تحلیل کولاي سو:

۱ ـ کله چی پښتانه په اسلامی دوره کی د مدنی او فرهنګی ژوند سره اشنا کیدل نو په دغو وختو کی یو ارت او ښکلی اسلامی خراسانی فرهنګ دلته جوړ سوي ؤ او پښتانه هم د یوه مسلمان او مجاهد قوم په ډول، د دغه فرهنګ

په غیږ کی روزل کیدل او دا فرهنګ هم دوي شرقاً تر بنګاله خپور کئ. نو ځکه په پښتو کی د دې فرهنګ نخښی هم په ادبی او هم فکری ساحه کی لیدل کېږي، مثلاً د دری د مشهور شعر یوه مسرۍ ده:

از یک چراغ کعبه و بتخانه روشن است

رحمان بابا هم د دغه فکر تر اثر لاندي داسی ویلی ؤ:

دا ځما د یار جلوه ده چی لیده شي
لکه نمر په صومعه په سومنات

۲ ـ پښتو ادب په خپله قدیمه دوره کی د حماسی آریایی ادب په غیږ کی روزل کیدئ، او بیا د غزنویانو د دربار د قصیده سرایانو شاعرانو د فکر او ادبی تخلیقاتو اثرونه هم د غوریانو د دربار د قصیده وینکو په وینا کی ښه ښکاري. د امیر کروړ اشعارو خو حماسی دی، مګر د اسعد سوری او ښکارندوی قصیدې د مدح او رساء په شکل کی کټ مټ د فرخی او منوچهری د قصیدې منظر نګاري او مدحیه رنګ لري، او داسی ښکاري چی دلته یو مشترک فکري او فرهنګی چاپیر جوړ سوی ؤ، چی دری او پښتو ادب په ګډه هلته وده کوله. او مشرترک منبع یې درلود، مثلاً که د اسعد سوری د محمد سوری د ویرنی قصیده د فرخی د سلطان محمود مرثیې سره څنګ ته کښېږدو، نو د دوي په منځ کی ډیر فکری او هنري مشابهتونه پیدا کیږي او دا ښکاري چی د دواړو شاعرانو ثقافی او فکری محیط ډیر سره نژدې ؤ.

۳ ـ په لسمه پیړۍ کی چی پښتو ادب د روښانیانو په فکري او سیاسی چاپیر کی وده کوله، دلته نو د دې کار لپاره دوې داعیی موجودي وې: اول دا چی د سیاسی او اقتصادی پلوه د افغانی واک او برم بیا ژوندي کول ؤ، چی د زمانې ناوړو د خلجیانو او سوریانو او لودیانو د قدرت حماسی روایات له منځه وړي وو، نو ځکه روښانیانو د دغه بایللي عظمت د بیا موندلو لپاره مبارزه روانه کړې وه.

دوهمه داعیه دا وه، چې د دې سیاسي مبارزې سره، یو روحي حرکت د تصوف او دینداریٔ په شکل کې هم ملګري ؤ او روښانیانو د سیاست او روحانیت په سیوري کې پښتو ادب هم را ژوندي کاوه، نو روښان په خیرالبیان او د ده دروزیانو په خپلو پښتو دیوانو کې د نظم او نثر په ګډون یو راز مسجع نثر جوړ کړ، چې د عربي او دري د فني نثر له مکتبه سره شباهت لري.

مګر یو قرن وروسته خوشحال خان او د ده کورنۍ د اوسني نثر لیکلو اساس کښېښو، او بیا وروسته محمد هوتک او نورو لیکوالو دغه بنسټ لا پسې ټینګ کړ.

د شلم قرن په لومړیو کلو کې چې د نوي مدنیت او صنعتي عصر اثرونه پښتونخوا ته را ورسیدل، نو د پښتو انشاء او لیکنه هم ور سره واوښته، او دغه اوښتنه موږ په دوه ډوله څیړو:

۱ ـ د پښتو لیکنې ظاهري او انشایي خوا:

چې د منشي احمد جان او مولوي صالح محمد هوتک، مولوي احمد د تنګي او خدایي خدمتګارانو او د بري او لري پښتونخوا د لیکوالو او پوهانو په همت د روښانیانو له ناوړه مصنوعي او د خټکو د نیمه معیوب سبکه څخه، و یوې داسي لیکنې ته ئې مخ را وګرزول سو، چې هم اسانه وه، او د پښتنو د حجرو له ژبې سره نزدې وه، او لیکوال خپل مطلب په داسې جملو کې ادا کوي، چې هغه د ژبې له عمومي جریانه سره سمې وې.

۲ ـ د پښتو د لیکلو سوو آثارو فکري او معنوي خوا هم په شلم قرن کې واوښته. د یوازې دیني او عقیدوي یا داستاني یا تصوفي مضامینو پر ځاي د وطن مینه، د قوم اصلاح، د بیدو خلکو ویښونه، د آزادۍ ګټنه، د استعمار غندنه او طبقاتي شعور او د اروپایي ادب پلوشې دلته را داخلې سوې، او ژرنالستي ادب هم رواج وموند، د ترجمې له پلوه ډېر نوي فکرونه او نوي خبري را پیدا سوې نو ځکه د اوسني لیکوال مخې ته هم د فکر او هم د

ظاهري سبک له پلوه ډېر لوي مسؤلیتونه ودریدل، او د پښتو ادب مخه هم له نظمه څخه د نثر خوا ته را وګرزیده او باید چې په ښتو کی بیله ژورنالستی ادبه، یو دروند او پوخ علمی تهذیب هم پیدا سي او د نوي علم ټول کتابونه په دې ژبه ولیکل سی یا ترجمه سی.

اوس به نو زه تر دغی مقدمې وروسته د پښتو په لیک کی ځینی د غور وړ خبري تاسي ته واوروم، او د هري خبري لپاره به ځینی نظایر هم له اوسنی ناوړه نثر څخه در وښیم:

۱ ـ په ترتیب کی د نورو ژبو له اثره ځان ژغورل:

هره ژبه ځانته خپل ترکیبی جوړ ثبت لري، او لیکوال باید همیشه دغه د ژبی خپل ساختمانی نظام هیر نه کی، زموږ اوسنی نثر په خطرناک ډول د دری، انګریزی، عربی تر اثر لاندي داسی راځی، چی بې له مفرداتو، اوس موږ په ترکب بندي کی هم د نورو ژبو بیګانه تعبیرونه په ناوړه ډول په خپله ژبه را ننه باسو، او دا یو داسی ناروا حرکت دئ، چی پښتو حقیقتاً ډېره کرغیړنه کوي.

د مثال په توګه وایم: رول لوبوي، نقش لوبوي، نقش لري، دا ناوړه، بد شکله او بد خونده تعبیرونه له کومی خوا پښتو ته راغلي! دا خو د انګریزی (to play a role) څخه په ناجایز ډول اول دری ته راغی (رول مهم را بازي کرد) بیا چی دې مقلدانو جنابانو ولیدل، چی د دوي په خبره خو دغه اهل زبان هم نه پوهیږي، او هغه وایی چی رول بیا څه بلا ده. چی انسان بازۍ په کوي! نو دې جنابانو لږ څه له تقلیده ځان وژغورئ او د رول پر ځاي یې بیا هم یوه عربی اجنبی کلمه نقش ودراوه، چی دا تر هغه لا بتره سوه، زموږ پښتنو مقلدانو هم ولیدی چی دری والو خو دا دونی کمال وکړ... هلئ نو موږ تر چا پاته یو، دې جنابانو قلم را واخیست او لیکی:

پلانی صاحب په دې کار کی مهم رول لوبوي، یا پلانی صاحب په کار کی مهم نقش پر اوږو لري ایا دغه سبک او ناوړه او بې خونده تعبیرونه د هغه پلانی صاحب توهین نه دي! چی په غونډه انه او تنه بازۍ کوي، رول لوبوي، یا یې پر اوږد باندي کوم نقش کړي دئ!!!

په انګریزي کی to make a decision: ډیسیژن په دری کی مستعمله مقابله کلمه نه درلوده، نو لغت نویسانو معنی تصمیم او فتوي قطع نامه، تصویب نامه ولیکله. کله چی د نالایق مترجم مخی ته دغه انګریزی جمله راغله هغه کټ مټ، لفظ په لفظ ترجمه کړه (تصمیم ګرفت) او دا ناوړه بدعت یې دری ته راوست، چی پخوا کورټ نه ؤ استعمال سوئ. زموږ پښتون لیکوال چی دغه ولید، نو چا مونده چی ما مونده فوراً یې دغه په پښتو ترجمه کئ (تصمیم یې ونیو) مګر که دغه ناروا او له ځانه جوړ سوي تعبیر خلکو ته ووایو، هغه نو وایی دا تصمیم څه بلا ده، چه هره ورځ یې نیسی؟ ولی یې په پړي ټینګ نه تړي چی بیا  نیولو ته یې اړ نسئ!

(وظیفه را به عهده داشت، ریاست کنفرانس را فلان بعهده داد) دا دری تعبیرونه دي. زموږ مترجم صاحب چی قلم را واخیست، نو یې داسی ترجمه کئ دا وطیفه یې په غاړه وه، د کنفرانس ریاست د پلاني په غاړه دئ!!! نه پوهیږو چی دا درناوي دئ؟ که سپکاوئ دئ؟ پلاني صاحب څه شی په غاړه ځړولي دئ! ښه دا ده چی داسی ووایو: پلاني دا وظیفه درلوده، یا یې دا وظیفه وه، او پلانی د کنفرانس رئیس ؤ، یا یې د کنفرانس ریاست کاوه.

دغسي ډیري نوري جملې دي، چی د نورو ژبو اثر دورا پکی ښکاري، لکه: دا خبره تر بحث لاندي نیسی، چی باید داسی وي: دا خبره څیړي یا پر دې خبره بحث کوي، بل لیکوال وایی: (معنوي تاریخ له هغه تاریخ څخه عبارت دي) چی په پښتو باید داسی ووایو معنوي تاریخ هغه دئ.

بل لیکونکی وایی: افغانستان د نړۍ د ګردو خلکو دپاره خلاص سو، او یو زیات شمیر خلک لکه متخصصین، محققین، کاریګران، ژورنالستان او ګرځندوي افغانستان ته په راتګ شروع وکړه. په دې بیان کی هم د فصاحت او هم د ګرامر له پلوه نقص سته، ځکه خلاص سو که افغانستان ته راجع سی، نو به مبهم وي. باید وویل سي: د افغانستان ودر نړۍ د خلکو پر مخ خلاص سو، او یو زیات شمیر خلک... افغانستان ته په راتګ شروع وکړه. ما ته کوډه جمله ده باید ووایو: زیاتو خلکو افغانستان ته په راتګ شروع وکړه.

کله په جملو کی حشو او زواید هم وي، او که هغه حذف کو، نو جمله سپیځلې پاتیږي، مثلاً یو لیکوال لیکی: هغه وخت کی د خوشحال خان پلار دوه ویشت کلن ؤ، د شهباز خان څخه څلور زامن پاته شوي وو... په دې جملو تر وخت وروسته ظرفی (کی) زاید دئ، ځکه کله چی زمانی ظرف راسی نو هغه پخپله زمانی کیفیت ښیی، بلی ظرفی علامې ته ضرورت نسته لکه زه سهار راغلم نو داسی نه وایو: زه سهار کی راغلم. په دوهمه جمله کی څخه زاید دئ. ځکه چی د شهباز خان څلور زامن پاته شوي وو. پخپله روښانه جمله ده. او اضافی (د) د نسبت او اضافت معنا ځرګندوي او دا جمله د دری تر اثر لاندي ده:

از شهباز خان چهار فرزند باقی مانده بود.

په دې جمله کی هم (دپاره) زاید ښکاري وایی: هغو کسانو چی د یوې مودې (دپاره) په افغانستان کی استوګنه کړیده باید داسی ولیکو: هغه کسان چی ډیره موده په افغانستان که هستیدلی دي.

(ترتیبات گرفتن) د دری ژبی یو ناوړه او محدث تعبیر دئ. دې کرغیړن تعبیر پر پښتو داسی اثر وکړ، یو لیکوال وایی: او پښتانه د خپلو دفاعی ترتیباتو د نیولو دپاره شا و خوا غرونو ته وختل. دلته هم باید د نیول مصدر

حذف سی، او ووایو: پښتانه د خپلو دفاعی ترتیباتو دپاره شاو و خوا غرو ته وختل.

ترتیب کوم داسی شی نه دئ چی هغه ونیول سی. بلکه کیږي، نوکی پر ځاي ترتیب کول هم ووایو، ښه به وي په دری ژبه که هم ترتیبات گرفت بدعت ښکاري.

۲ـ د کلماتو پر ځپل ځاي ټاکنه:

کله عام خلک داسی کلمات استعمالوي، چی د هغو استعمال په ادب کی جواز نه لري، ادیب باید هره کلمه د ذوق او د خپل انتخابی قوت په حکم، پر خپل ځاي وټاکی او هلته یې استعمال کی، د څو مترادفو کلمو تر منځ هغه انتخاب کی، اصیله او غوره وي، مثلاً: ځینی خلک وایي: پلانی سړي له خپله کلي شړونکئ دئ، یعنی شړلئ سوئ دي. دلته باید د لیکوال ذوق فاعل له مفعوله جلا کی، او د شړونکی سړی پر ځاي شړلئ سړی ووایي.

په رادیو کی اورو چی خپل ایوانان داسی وروزي، د ایوان کلمه د کوچنی او واړه په معنا یوه خورا عامیانه اصطلاح ده. په پښتو یې په مقابل کی څو کلمې لرو: واړه، هلکان، کوچنی، زهکی، نو ولي نه وایو: خپل هلکان، خپل کوچنیان، خپل واړه. خپل زهکی داسی وروزئ؛ او دا کلمې ټول پښتانه پیژنی، په معنا یې پوهیږي، مگر ستاسی نیم د غربی ولایاتو پښتانه چی د ایوانانو کلمه واوري دې ته به منتظر وي، چی رادیو وال د خرو او غویو د روزنی خبري کوي. ایوان پښتو کلمه نه ده بلکه معنوي مفغنه ده، چی ځینی پښتانه یې وایی نه کرده، مگر واړه، کوچنیان، هلکان داسی کلمې دي، چی هر څوک په پوهیږي، چه اصیله پښتو کلمه وي، ولي به داسی کلمه استعمالوو، چی هغه د چارپاي معنی ورکوي! ایا د انسان د مقام سپکاوي نه دئ! که یې عوام ووایی له هغه څخه څه گله نسته، مگر د لیک او رادیو ژبه باید مهذبه وي.

۳ـ کله کله غلط ترکیبونه هم په نوشتو او د بازار په لوحو کی لیدل کیږي، مثلاً د حبیبه لیسه، د حربیه لیسه، چه پخپله هغه د نسبت معنا په حبیبیه حربیه لیسه کی پرته ده، او باید حبیبیه لیسه، حربیه لیسه ولیکل سي، نه اضافی دال ته ضرورت سته او نه د هغه ګرامري عمل ته. البته که په ترکیب کی تر عامل لاندي راسی هلته د عامل اثر په ښکاره کیږي، لکه له حبیبی لیسې څخه راغلم. اما په مجرد اضافی شکل کی حبیبیه لیسه کافی ده.

په بازاري لوحو کی لیدل کیږی: د پاچاګل سلمانی! دا اضافی ترکیبونه خو دا ښیئ، چی سلمانی صاحب فقط پاچاګل او احمد ته مخصوص دي. دلته اضافی دال بالکل زاید دئ. او د پاچا ګل او احمد شخصیت نه ښیی، بل ځاي لیکلی دي: د مرکزی قوا، چی په خپله مرکزی قوا اضافی مفهوم لري د بل اضافی دال ضرورت نسته. دغسی هم د انوری درملتون، یا انوری درملتون فرق لري. که د سړی نوم انور وي نو وایو انوری درملتون، او که د مالک نسبت انوری وي نو وایو د انوری درملتون.

٤ـ کله په وینا او خبرو کی د کلماتو اکسنټ یا حرکات وراړ وي، چی معنا ور سره اوړي. مثلاً بڼه (پر مرغ) بڼه (رنګ روي) چی اول یې دوه زورکیه او دوهم یې دوه زوره لري چی د اول جمع بڼی (په معروفه ی) او دوهم د ابڼې (په مجهوله ی) ده دغسی هم اغیزه، بشپړ، جوله غلط دي. دا باید اغیزه (خج پر دوهم سین) او بشپړ (د ب، پ په زورکی) او جوله (د ج، خ په زور) ووایو. کله د حروفو او اصواتو په تغییر د کلمې معنا بالکل اوړي، مثلاً د ش ـ ښ ـ خ په اړولو سره معانی داسی تغییر کوي:

ښره (شوره) خره (توده) شور (زوږ) خور (خواهر) ښور (لانهٔ مور) دغسی هم شار ـ ښار ـ څار دری کلمې دي، او بیلی معناوي لري. بږغ مطلق صوت دئ، حال دا چی بږغ ـ ګغ دوه اسم صوته دي، چی هر یو د خاص بږغ حال ښکاره کوي، او غبږ هم خاص اسم دئ، چی پر هر بږغ نه اطلاقیږي.

ژغها ـ ګغهار ـ غبرهار درې خاص خاص حالونه ښيی، او ږغ چی جلا لغت دئ زغهار او ګغهار يا غبرهار نه ځنی جوړيږي.

۵ ـ کله کله د بعضی جملو هم معنا غلطه وي، او هم يې الفاظ غلط وي، مثلاً يو ليکوال صاحب د خپلی تاريخ دانۍ ثبوت داسی کوي او په دې الفاظو:

(د کابل لومړنی اخبار شمس النهار نوميده، چی ماليار يې علامه سيد جمال الدين افغان و، او د شير علی خان په وخت کی خپريده (۱۸۷۹-۱۸۶۳).

لفظی او ادبی کمزوري يې دا ده، چی يو سړی څنګه د شمس النهار ماليار کيږي؟ دا خو يو اخبار ؤ چی بايد چلونکی يا ليکونکی يا مدير يا مالک ولري. که يې چلوونکی ليکلی و، بيا به هم موږ ويل، چی د لمره سره څه تلازم لري؟ ماليار او لمر يا اخبار څه تناسب سره لري؟ د جملو معنا هم غلطه ده، هغه وخت چی شمس النهار خپريدي، سيد جمال الدين کورټ په افغانستان کی نه و، او نه يې د شمس النهار سره کوم تعلق درلود نه يې ماليار ؤ او نه چلونکی. امير شير علی خان لومړۍ پلا د جون په دوولسمه ۱۸۶۲م پر تخت کښينوست او په ۱۸۶۶م له تخته ولاړ سو، او پر ځای يې امير افضل خان پاچا سو. په دې څلورو کلو کی شمس النهار نه ؤ خپور سوي، دوهمه پلا بيا دغه امير له ۱۸۶۸ څخه تر ۱۸۷۸م پوري شاهی کړې ده، چی په دې دوره کی شمس النهار خپريدئ، او دا ۱۲۹۰هـ = ۱۸۷۳م کلونه و. خو تر دې دمخه سيد جمال الدين په ۱۲۸۵هـ کال له قندهار بمبئی ته تللی، او د شمس النهار پر وخت دی په مصر کی ؤ. نو داسی ښکاري چی ښاغلی ليکوال هم تاريخ ندی لوستی، او هم يې د پښتو ليکنه نه ده زده، او د (خط غلط، معنی غلط، انشاء غلط، املا غلط) ژوندي مصداق دئ.

اوس به نو زه د دې وينا په پای کی د پښتو ليکنی لپاره يوه څو کلمات وړاندي کم، چی زما په فکر د ليکوالو لپاره يې رعايت ضروري دئ:

۱ ـ د جملو په جوړښت کی بايد د ژبي محاوره، ادا، او ترکيبی لوازم هير نسی او په دې کار کی په وسيع نظر د ګردي پښتونخوا د محاورې جوړښت په يوه ترجيحی ذوق او قريحه په نظر کی وي، د لانده او وچ فرق سره وسی، او هغه ترکيبونه غوره وګڼل سی، چی د پښتو ګرامري ساختان يې منی، او سليم ذوق يې پر غوره توب حکم کوي.

۲ ـ د کلماتو په استعمال کی دي هغه غوره سی، چی پښتو وي، او اصالت ولري او که د نورو ژبو کلمات اخلو، هغه به هم هغه کلمات وي، چی د نورو افغانی ژبو سره مشترک وی، مثلاً دکان يوه داسی کلمه ده، چه هم يې پښتانه استعمالوی او هم دری ژپی خلک په پوهيږي. د دې پر ځاي هټۍ يوه خالصه هندی کلمه راوستل، او په دې فکر يې په استعمال کی ټينګار کول چه دا خو پښتو ده، مناسبه نه ښکاري.

۳ ـ که د کوم مطلب لپاره پښتو کلمه نسی پيدا نو دلته به هغه کلمه اخلو، چی دمخه په پښتو ادب کی له دری يا عربی څخه استعمال سوې وي، مثلاً که د اليکشن انګريزي کلمې په مقابل کی کومه پښتو کلمه مينده نه کو، نو هغه عربی مستعمله کلمه انتخابات هم ليکلاي سو، ځکه چی دغه کلمه اوس په همدغه معنا خلکو منلې او پيژندلې ده، لکه د اولسی جرګې انتخابات د ښاروالو انتخابات. يا که د پارټۍ اروپايی کلمې په مقابل کی د پښتو ګوند واخلو، نو هغه عربی حزب هم استعمالولاي سو، ځکه چی زموږ په دوهمه ژبه دری کی هم لکه انتخابات د حزب کلمه د سياسی پارټۍ لپاره پيژندلی سوي ده.

٤ ـ پښتو ژبه په نغښته پښتونخوا کی خاص خاص اصطلاحات او په انګريزی تعبير terms لري چی په ليکنو او د مقاصدو په ښکاره کولو کی

خورا په کار راځی او پر خپل ځای ئې استعمالول یو مهارت او فصاحت دئ. مثلاً خاشې پکی ماتول خاصه اصطلاح ده، چی ځوک د یوه کار په نه کیدلو کی په مهارت ممانعت کوي، مګر په داسي ډول چی ځوک نه په وپوهیږي، نو که موږ داسی ولیکو چی پلاني ملت خو خپله آزادی غواړي، مګر ها بل حکومت په دې کی خاشې ماتوي، دا تعبیر هم خوږ او هم ادبی او هم د ژبی له مزاجه سره برابر دئ.

۵ـ کله په نورو ژبو کی خاص اصطلاحت وي، چی خالص مطالب په ځرګندول کیږي او که هغه کټ مټ را واخلو او استعمال یې کو، نو به مو ژبه او لیکنه بې خونده کیږي. مثلاً که ولیکو، چی د انګلستان رول د مشترک بازار په تاسیس کی ډیر دئ. ښه به دا وي چی ووایو: د انګلستان برخه یا زیار د مشترک بازار په جوړولو کی ډیره ده، یا ډیر دئ، د دری خاصه اصطلاح ده (بدست آوردن) دا که موږ وغواړو چی کټ مټ یې واخلو نو په پښتو لاس ته راوړل ځني جوړیږي. بلکه (په لاس راوړل) همدغه مطلب لري، په خبرو کی وایي:

د پلانیو لښکرو قوماندان داسی امر لاس ته راوړئ دئ، دلته عیناً د (بدست آورده است) ترجمه کوي سهو ده، باید ووایي: د لښکرو قوماندان ته داسي امر رسیدلئ دئ یا داسی امر روته سوئ دئ.

٦ـ د پښتو پر لیکنی زموږ راډیوئي ژبه خورا ډیر اثر اچوي، سمعی تلقین د یوه نو کار مترجم لپاره بهترینه او مؤثره وسیله ده، زموږ راډیوګانی هره ورځ د پښتو مضامین او خبرونه خپروي، مګر د دوي لیکوال د پښتو پوښتنۍ ور ماتوي. او باید سړی ورته ووایي: (ستاسو خو خو د پښتو پوښتنۍ کړې ماتی).

خلک داسی ګمان کوي، چی د راډیو ژبه ثقه او صحیحه ژبه ده، نو یې تقلید کوي او ناوړه تعبیرونه او اداوي په ژبه کی ناپوهو نطاقانو او لیکوالو له

خوا خپریږي، نو له دې جهته باید د راډیو یو ژبه تل ثقه او صحیحه وي، چې اوریدونکي ګمراه نکې. د راډیوګانو ادارې باید په هفته یا میاشت کې د ژبې یو پروګرام هم ولري، او مسلم استادان دعوت کې، چې د ژبې ځینې غلطی او ناوړې په انصاف او درنه لهجه تحصیح او انتقاد کې، او بیله دې چې د چا نوم واخلي د نطاقاتو او لیکوالو ادبي او ژبنې نواقص ور وښیې، چې نور اوریدونکي د هغو تقلید و نه کې، صحیح او سقیم سره بیل سي، دا یوازې د پښتنو لپاره مفید کار ندي، بلکه دری هم دغسې توجه غواړي.

پښتو ژبه او د دې نثر لیکنه اوس مخ پر انکشاف ده، که په دغه اوسنۍ مرحله کې احتیاط وسی، او معیاري لار ورته وټاکله سی، ښایې چې موږ په آینده کې ښه او خوږ متین نثر ولرو، او ښه لیکوال هم د ژبې د پالنې لپاره وروزو.

باید چې د پښتو لیکنې ماهر استادان دې خوا ته توجه وکې، او ژبه له یوه خطرناکه ادبي انحطاطه وژغوري.

# د ګوهر خان خټک د قلب السیر نثر

د خوشحال خان په زامنو کی موږ ګوهر خان دمخه لا پیژندلی دي. دی د خان په فاضلو زامنو کی د قلم خاوند او شاعر او ادیب سړی تیر سوي دی. ګوهر خان لکه خپل وروڼه عبدالقادر خان، اشرف خان هجری، سکندر خان د خټکو د علم او هنر په درنه کورنۍ کی د خپل پلار خوشحال خان تر سیوري لاندي د پښتو ادب په سمسور بڼ کی پالل سوي، او د پښتو منشور او منظوم آثار ځنی پاتی دي، او د پښتو ادب په تاریخ کی ښه مقام لري.

دمخه ما ته د ګوهر خان کوم کتاب یا دیوان نه و معلوم، نو ځکه مي د پښتانه شعراء په لومړی ټوک کی د ده آثار ظبط نکړل او بیا مو هم د خوشحال خان د درنې کورنۍ په ادبی ارکانو کی د ده نوم نه واخیست او تر اوسه د پښتو د دغه هنرمن لیکوال او شاعر آثار چا و نه پیژندل.

څو کاله مخکی ما د پښتونخوا د پیښور په موزیم کی د ګوهر خان یو ورک کتاب وموند، چی په دغه کرښو کی د پښتو ادب پلټونکی ته معرفی کوم: دا ورک کتاب قلب السیر نومیږي. تقریباً ٤٠٠ پاڼی او اته سوه مخه دي، غټ او پنډ کتاب دي، موضوع یې د حضرت پیغمبر (ص) سیر او احوال او غزوات دي. دیرش بابه لري، د حضرت رسول (ص) اجداد او انساب او د ده د عمر سوانح له تولده تر وفاته پوري په تفصیل بیان سوي، او بیا د راشیدینو خلفاوو احوال او د قیامت علامات او د حشر او نشر او صراط او جنت او د دوږخ بیانونه لري او هر ځاي د خپل شعر، رباعی او قطعات او غزل او قصاید د نظیر په ډول راوړي. د دې کتاب په ترتیب او لیکنه که عربی او فارسی کتابونو حوالې سته او د محمد بن اسحاق روایت را نقلوي او نور مأخذ یې دغسی کتابونه دي: تمهید المعرفت، اخبار الآخرت، لطایف قصص،

مصابیح، مشارق صحیحین او نور... د کتاب املا د خټکو د پښتو املا سره برابره ده، خط يې نستعليق دي، او داسې په حمد و نعت سره شروع کيږي:

حمد بيحد او ستايش بيعدد د هغه پيدا کونکې چې کسوت د وجود د عالم د ده له کامل قدرته دي، شکر سپاس بيقياس د هغه پروردګار، چې حليت د عقل د بنی آدم د ده له انوار حکمت دي، هغه پادشاهان چې دشمنان په صاعقه د بعد له خپله دره د ورکا. او دوستان په جرقه د تقرب لکه موسی په طور کا وجود د ده مقارن د زمان نه دي، او ذات د ده مقابل د مکان نه دي، پخپل قدرت بې علت يې اوه اسمانه مدور کړل، او په چهره يې د خاورو لک در لک بدايع او صنايع مصور کړل، د جمله مخلوقات يې بنی آدم برګريده، او له بنی آدم نه يې انبياو ته صلوات الله عليهم رفعت او درجهٔ رسالت ورکړ، او له همه وونه يې پيغمبر زموږ صلي الله عليه و سلم په مزيد منزلت او کرامت مخصوص کړه. ختم د نبوت يې په ده وکړ او رتبت يې د دعوت ثقلين، خاص وده ته عنايت کړ، فلاح يې د عالميانو د ده په متابعت کی کړ، افعال يې د ده مفتاح د سعادت زموږ کړ، اقوال يې د ده سبب د هدايت زموږ کړ، درجه د کمال چې چا بيا مونده په سنت يې د ده اقتداء وکړ او اعتراف او اقبال يې در، هغه چه په سيرت يې د ده همتا اوکړ، صد هزار صلوات تحيات زکيات په روضه د مقدسهٔ منوره د ده هميشه اوسه. حمد و ثنا د پاري تعالی او نعت ستايش د محمد رسول الله صلی الله عليه و سلم هونبره نه دي چې که د جمله مخلوقات هر ويښته په تن ژبی شي په دا هونبره ژبو تر قيامته په ستايش د ذات د صفات ګويا شي. پمثال به له دريا به څاڅکی حاصل نکا، دا قصيده په ثناد باري تعالی جل شانه، او په نعمت د سرور عالم صلی الله عليه و سلم، او د ده د اصحابو او په مناجات و پروردګار وته خپل موافق د قدر بيان کړې ده.

## قصیده

که ویښته یې په تن ژبې صد هزار شي
بیا ثنا د حق پرې څو رنګه تکرار شي
هم می عمر شي په زر لکه کالونه
د بیحد ثنا بیعده نه به شمار شي
که سیاهی قعر دریاب شي نور سیندونه
یا قالم د جهان کال واړه اشجار شي
که کاغذ شی دا وو مزکو مخونه
بیا پر یو صفت رقم د لوی دا دار شي
را به واړه شي تمام کاغذ به تور شي
ناتمام به وي که زر ځلیه درکار شي
نه د خیال د عقل کار شته ستا و ذات ته
انبیا دي سر کشته په دا اسرار شي
څه عجب خرګاه یې روغ کړ بې ستونه
پکښې نور ګاروڼ... رفتار شي[1]
څه عجب فرش ترو لاندي غوړولی
بیا پر جوړ جبال، اشجار، دریا، شمار شي
ډیر تاثیر یې په آفتاب مهتاب کی یښي
هم له نوره یې روشن لیل و نهار شي
رنګ او بوي ګل د مهتاب په تاثیر اخلي
رنګ په رنګ چی را ښکاره په نو بهار شي
رنګا رنګ فرزندان و زیبروي مزکه
چی په وقت د نوبهار باندي امطار شي

---

۱. دلته دوه توري نه ویل کېږي، پر ځاي یې ټکی کښیښوول شول.

بې حسابه ستاره چې په آسمان کې
د خفتن په وقت همه درته اظهار شي
همه واړه سرګردان دي په خدمت کې
خالي نه دي يو زمان چې د وي بيکار شي
تر سما سمکه پوري چې پيدار دي
هم هغه کا چې پرې حکم د قهار شي
په قيام ورته شجر په شجود ويني
په هوهو يې په تشبيح واړه دمدار شي
يو قالب کار څلور عنصرو جمع
بيا د ده په امر روح پکښې انبار شي
له يوه څاڅکي اوبو د مور په نس کې
جوړ صورت کا هر اعضا باندي تيار شي
غاښ او سترګې، پيزه، غوږ خوله يې وګوره
لاس و پښې ګوتې چې درست سره نګار شي
تامې جهان ثابت زما په تن کې
دا صفت به په يوه پروردګار شي
د چا زړه په معرفت په علم پور کا
څوک کافر کاندي محکم لايق د نار شي
په صخره کې رزق روزي رسې جمجې ته
بيهوده سړی د رزق روزي غم خور شي
محمد يې کړ پيدا له خپله نوره
عرش او فرش يې کل روشن پدا انوار شي
دي سلطان دي او لوا العزم د انبياوو
د آدم او د حوا پري افتخار شي

په جهان د صفی زوي راغلی ښکاره شوي
نور، د تا د همه کل پیدایش پلار شي
په احمد نامه دي خلاص آدم حوا شول
په نامه د تا شفیع ګوره څو کار شي...
ستا کمال صفت به څوک نکاته سره
که سړي، پیري همه سر په ګفتار شي
د سرور صفت مي وکا پخپل قدر
څه خو لږ صفت يې اوس د چهار يار شي...
د سرور اصحاب همه دي لکه ستوري
تحیات له موږ په واړو په بار بار شي
اقتد یتم اهتدیتم دا حدیث دي
ورک بشی چی هر څو نه د دوي په لار شي
پس د دوي له ثنارب ته مناجات کړم
که قبول د امناجات څما خوار زار شي
په حرمت د پاک نبی د چهار يارو
که می دا ویل قبول ستا په دربار شي
د شیطان له وسوسو نه يې وژغوره
چی مي زړه مشغول همیش ستا په اذکار شي
تل مي ژبه په رشتیا ویل عادت کړه
دین ته ښه په دنیا قدر اعتبار شي
بد عادت او بد ګویي له ما واخله
چیري نه چی مي په ژبه څوک آزار شي
ذمینه خویونه لیرې کړې له ما نه
چی آواز می په جهان د نیک کردار شي

د دنیا په محبت می اخته مکړه
هر چی مینه په دنیا کا نا هنجار شي
په سخا کی می مشهور کړه په دنیا کی
چی دا خوي عالی لري هغه کبار شي
توکل، شجاعت دواړه و ما را کړه
په دا دوه خویه که ډیر سړی رویدار شي
بل توفیق د تقوا را کړه پدنیا کی
تل نزول د خدای رحمت به پرهیزګار شي...
د دې قصیدې په پاي کی وایي:
ښه بې وویل ګوهر په تار د نظم
آفرین دي په دا هسی شان اشعار شي

تر دې حمد او نعت او قصیدې وروسته ګوهر خان د قلب السیر د تألیف سبب داسی لیکی:

تألیف د کتاب:

دا چی اکثر کتابونه له عربی او فارسیانو بزرګانو خپل عالم وته چی په تازي ژبی کی به یې فهم پرې ښه نه کیده، فارسي ئې د دوي دپاره ترجمه کړل. سهولت ئې ښه وشه، مینه به ئې پرې پیدا کړه، مطالعه به ئې کړه، ډیر کتابنو د فقه د مسایل د اخلاق وغیره بزرګانو فارسیانو بیان کړل، چی معلوم دي.

په پښتو کی دا رواج نه وه، اخون درویزه یو کتاب مخزن ویلي دي، حق تعالی دي وبخښی، اکثر خلق ترې فیص بیا موند، بیا د موړه پلار مرحوم خوشحال خټک الله تقدس و تعالی دي په قبر نور کا، هر ګونه کتابونه ئې تصنیف کړل. داد ئې د بلاغت و فصاحت د پښتو ژبي وکړ، فارسی وته ئې په لذت نژدې کړه، غزل، رباعی، مخمس، ترجیع بند، ترکب بند وغیره صنایع شعر یې وکړ، د فارسی د شعر رواج ئې و پښتو ورکړ. په عروض په قافیه یې

درست ووې، د نظم و نثر ئې ښه کتابونه بیان کړل، چی خود په عالم مشهور دي. اګر چه پښتو ژبه په علت د دور نیشنوو هونبره لذت نلري، چی عربی، فارسی سره نسبت شي، لیکن از راه ضرور پښتنو ته هم په پښتو ویل بهتر دي، او سنت الهی هم په دا چاري دي، هر کتاب چی په ناز لیده، هم د هغه قوم په ژبه به نازل شو، دا په دا چی د هر چا پخپله ژبه فهم کیږي، رباعي:

دوه یاران چی راز د زړه تر بله نمائي
بایده دي چه پخپله ژبه وائي
د فارسیانو کن مکن ویل څه سود کا
پښتنو ته کړه مکړه ویل ښه ښائي

نور بل سبب د کتاب دا وه:

چی افضل خان زوي د اشرف خان مرحوم نمسی د خوشحال خان خټک کرلاڼي غفرالله چی سن زر سل شل دي، د پلارو نیکه په ځاي قایم مقام دي. ښه سرداري لري، نظر ئې په نیکنامی په ابادانی دي، په دا قحط الرجال دي غنیمت دي.

اللهم ترد احسانه، حق تعالی دي شرم وساتی، نور سعیه کا چی د پښتو کتابونه له هره قسمه لکه فارسیانو کړي دي مرتب شي.

د نیکه شعر ئې واړه په بیاضونو هر ځاي متفرق وه، د ده په تالاش چی څو مدت پدا سعی کښی و، له هر چا به ئې جمع کړ، دیوان ئې مرتب کړ، بلکه کلیات د شعر ئې چی څه وه، په نظم، نثر لکه دستار نامه، فراق نامه، فیض نامه دیوان وغیره کتابونه ئې واړه په کاتبانو په څو څو ځله وکښل، په اطراف به ئې د شهرت دپاره و هر چا وته استول، حق تعالی ئې توفیق د نیکۍ رفیق کړه، په مجلس کښی به ئې همیشه ویل، چی که د چا په طبیعت قوت وي، چی پښتو کتابونه لکه فارسیانو له عربی په فارسی ترجمه کړل، څوک يئ له فارسی په پښتو ترجمه کاڼي، و ما ته چی به ئې اکثر اوقات مخ را جاریوست، اګر

چی ځما قوت هوبنره نه و، لیکن چی نظر می په تصنیع د اوقات وکړ، و می لیده چی عمر ګرانمیایه ضایع درومي، په هر حال می و دې محنت وته ملا وتړله، نور می اکثر د کتابونو مطالعه کړه، چی که یو کتاب چی په قال او حال مضبوط او معتبر وي له فارسي ژبی نه یې په پښتو ترجمه کړم. دا کتاب مي بیا موند، چی نهایت په افعال په قال په حال د موږ د پیغمبر صلي الله علیه و سلم پخته او معتبر و، چی تعریف ئې د پختګۍ مصنف په فارسی کښی نهایت طولانی کړي دي، چی که په دا کتاب کښی ئې راوړي ګنجایش (نلري) نور ئې شغل ور سره واخیست، چی دا شغل هم عظیم نعت دي، له فارسی په پښتو ژبه ترجمه کړ، نوم یې قلب السیر کښیښښ شو، نظم:

دا کتاب په پښتو ژبه غنیمت دي
په لوستونی ئې نازل د خدای رحمت دي
چی ئې لولې یا ئې کښینه ما دي یاد کا
په تکبیر په فاتحه می دي ډیر ښاد کا

دا کتاب ګوهر خان له فارسی څخه په پښتو د ۱۱۲۰هـ په حدود کی ترجمه کړی دي، او له لوړه بیانه داسی ښکاري چی ګوهر خان د خپل وراره افضل خان خټک په خواهشت به دې کار لاس پوري کړي دي.

افضل خان پخپله د ادبي لوړ ذوق خاوند و، تاریخ مرصع او پښتو کلیه او دمنه، علم خانهٔ دانش د ده ښکلی تاریخی او ادبی آثار دي، د قلب السیر له لوړي مقدمې څخه دا هم ښکاره سوه، چي د خوشحال خان د اشعارو دیوان هم پخپله خوشحال خان نه ؤ ټول کړي، بلکه دا کار هم افضل خان کړي دي او له بیاضو څخه یې د خپل نیکه مختلف اشعار را ټول کړي، او د دیوان په شکل یې لیکلی دي.

داسی ښکاري، چی افضل خان د خوشحال خان، د دیوان د را تولونی او لیکنی لپاره په اکوړه کی خاص کاتبان کښینولي وو، او د دغه دیوان ډیري

نسخې يې ليکلي وې. ما پخپله درې داسی نسخې ليدلی دي، چی د افضل خان په امر په اکوړه کی کښلی سوي وې، او يوه نسخه يې اوس د کابل په خطی کتب خانه کی سته، او ما چی په قندهار کی لمړئ پلا خان بشپړ کليات چاپ کئ يو مأخذ می همدغه نسخه وه.

د خوشحال تر نثر وروسته د ده په زامنو کی د عبدالقادر خان ګلدسته او د ګوهر خان دغه قلب السير ډېر مغتنم آثار دي، چی وروسته نو د افضل خان تاريخ مرصع او علم خانهٔ دانش دريږي.

د پښتو ادب پلټونکو او د تاريخ ادبيات تکميل کونکو ته دا ښايی، چی ګوهر خان د نظم او نثر په تاريخ کی خپل مناسب ځاي ورکی. نو زه د ده د شعر او نثر نمونې لاندي ليکم، چی د ښاغلو پلټونکو لپاره تياري وي او ګوهر خان پس له دې دغسي نوم ورکی پاته نه سي:

رباعي

مال چی دي وخوړ هم هغه ستا دي
چی لتا پاتو شي، نور د نور چا دي
که دې څه وښنده د خدای په لوري
مال دي همدا دي، مال دي همدا دي

دا رباعی که د خوشحال او هجري او سکندر به آثارو کی نه وي راغلی، نو ضرور به د ګوهر خان وي، اما دغه غزل خو يقيناً د ده ده:

چی په مهر دي نظر شي هر انسان ت[1]
په بهانه بهانه يئ وبولي خپل ځان ت
چېرته فارس چېرته به شام يا مدينه وه
چی دي وښيله راسته لار سلمان ت

---

۱. موږ اوس ضمير مخاطب (ته) او دغه د انتها ادات (ت) دواړه يو راز ليکو. که دغه ادات له (ته) ضمير جدا کړو او (ت) يې وليکو لکه په قديمو املاو کی چی و، دا به ښه‌ګه وي!

مجوسی آتش پرست یار د احمد کړې
چه هیڅ نه رسیږي عقل او ګمان ت
عجمی له اهل بیت سره حساب کړې
سکه تره د احمد خوشی کړې شیطان ت
په کله کی بولهب څرنګ ګمراه کړې
له ملکونو سلمان را ولی ایمان ت
بوالحکم د مکی څرنګ دوزخی کړې
له حبشه بلا ورولی رضوان ت
ځاي د دم وهولو نشته هر څه کاندي
حیرانی ده په هر کار کی و سجان ت
و خاکی بنده ته څو مراتب ورکړي
د ملک غوندي ئې کښت وشی اسمان ت
سفیع کړي می سلیمان دي ستا و در ت
ما ګوهر ایمان د اربیا په بل جهان ت

د ګوهر خان د نثر یوه نمونه:

پنځم غزا د بدر الکبرا ده، او د دې غزا ئې په دا سبب بدر الکبرا نوم کښیښ، چی اوله فتحه چی اهل اسلام وته ظاهره شوه دا غزا ده.

په دغه ورځ صنا دید د قریشو یعنی کتخدایان د قریشو په قتل ورسیده، او مهتران ئې اسیر بندي شول او دا حکایت دا هسی و، چه چا خبره و مدینې ته راوړ، چی ابو سفیان بن د حرب د قریشو له قافلې سره د شام له لوریه ګذر کا، په لور د حجاز درومي، ډیر خلق او ډیر مال ور سره دي.

چی پیغمبر صلی الله علیه واله و سلم وته ئې خبر راوړ، مهاجران او انصار ئې را وبلل، ورته ئې ووې چی اې ځما اصحابو! وقت هسی دي چی لینده د رجلیت په بازو کی د مردۍ واچوئ. د کنارو جهاد ته ملا چست و چالاک

وتړئ. کوښښ کانی. تر هغه پوري (چی) حق تعالی دار د اسلام له اهل شرکو واخلی. او نصرت د دین حق ورکا، اوس دا دي ابو سفیان بن د حرب چی سره د مشرکانو دي د قریشو له قافلې سره تیریږي. مال بسیار له عدد بې شمار له ده سره دي. راشئ چی په غزا د ده ور ووزو یا به بیا مومو ظفر او غنیمت، یا به مشرف شو په غزا په شهادت.

رباعي

په دواړه لوریه مه بخت سعادت دي
که پکښی ومړئ، ځاي مه[1] جنت دي
که ظفر بیا مومئ، کفارو باندي
موجود و تاشی[2] حلال دولت دي

نور واړو صحابه وو عرض وکړ چی زر ځانون ځمونږ د خداي د رسول الله صلی علیه و سلم تر حکم فدا شه، هر چی څه راته فرمایی او حکم کړي، حکم روا او فرمان بردار یو. ترتیب ئې د جهاد وکړ. تیر[3] سو دیارلس ځوانان له پیغمبره صلی الله علیه واله و سلم سره په غزا له مدینې وه وتل، او مابقیه وو چی تخلف وکړ، پدا سبب چی پیغمبر صلی الله علی واله وسلم به له قریشو سره جنګ و نه کا، پدا سبب چی د ده عزیزان دي، پس چی پیغمبر صلی الله علیه واله و سلم له مدینې وه ووت، ابو سفیان پخپل خبرداري کړه، خبر ئې اخست.

اول ئې دا کار وکړ، چی همیشه به د پیغمبر صلی الله علیه واله وسلم، د ده اصحابو نه خبر ګیران و. او یو سور ئې د خبرو دپاره د مدینې وته استولي و.

---

۱. د (مو) جمع متکلم ضمیر په اصل نسخه کی (مه) لیکل سوی دي، چی تر اوسه هم په کاکړي لهجه کی داسی اوریدل کیږي.

۲. په اصل کی داسي دي اوس یئ (تاسی) لیکو.

۳. په اصل کی دغسی دي، مطلب درې سوه دیارلس دي.

چی هغه سور د مدينې وته ورسيده و پوهيده چی سردار عالم صلی الله عليه واله و سلم له اصحابو سره له مدينې په قصد د ابو سفيان د کاروان وتلی دي.

هغه سور هم په هغه ورځ له مدينې بيا وجار ووت. بيا ئې په تاخت لاړ، توقف بې چرته ونکړ و قافلې ته ورسيده ابو سفيان ئې خبر کړ، چی محمد خود په قصد ستا قافلې راوتلی دي. اوس تدبير د خپل کار چی پوهيږي هسی کړه!

نو د ابو سفيان ملاخظ وشوه، زر ئې سور تندرست چابک دست طلب کړو مکې وته ئې په بيړه واستوه. چی قريش را خبر کا له لشکر سره د قافلې دمخی ته راشی، و ده وته وصيت وکړ، چی و قريشو وته ووايه چی که تاسی توقف وکړ، او لشکر مه (کذا) زر را روان نکړ، اميد له خپله ماله قطع کاښي، چی محمد له ډير لشکر سره قصد د کاروانه لري، نور هغه سور ډير ګړندی لاړ و مکې ته، او پخوا تر هغه سواره چی لا دي و مکې وته رسيدلي نه و عانکی ترور د پيغمبر صلی الله عليه واله و سلم خوب ليدلي و چی شرح د هغه خوب په دا رنک ده... (د قلب السير له قلمی نسخې څخه).

# پښتو نثر په تاریخ مرصع کي

د پښتو د نثر په تاریخ کي لسم قرن له دې جهته مهم کڼل کېږي، چې د پیر روښان په لاس د فنی نثر تیږه ایښوولی سوې ده، تر هغه ځایه چې موږ ته ښکاره ده، تر بایزید روښان دمخه د پښتو نثر ساده او روان او له فنی تکلفاتو څخه تش و، چې نمونه یې د سلیمان ماکو په تذکرة الاولیأ کی سته او دا هغه نثر دي، چې د ٦١٢هـ په شاوخوا کی کښل سوي دي.

د پښتو په ادبی تحول کی سیاسی وقایع ډېر قوي اثر لري، پخوانی فاتحان خو په پښتونخوا کی نه پاتیدل، دوی به له دې غزنۍ مځکی څخه د هند خوا ته تیریدل او ډېر فرهنګی او اجتماعی اثرونه به ئې نه پریښوول.

چنګیز او تیمور خو د پښتونخوا له سیمو څخه په بیړه تیر سول، مګر تر ۹۰۰هـ را وروسته چې بابر له فرغانې څخه افغانستان ته را تیر سو، دی دلې ډېر پاته سو، او په کلو کلو دلته د پادشاه په ډول و، او بیا چې هند ته ولاړ هم د افغانستان سیمی دوه قرنه د ده او د ده د اولادو تر تسلط لاندي پاتی سوې او پر غربی خواوو باندي هم د صفوي سلطنت له سیاسی تسلط سره ادبی اثرونه هم دلته را ورسیدل.

شرقی خوا ته د بابر د کورنۍ او غربی لور ته د صفویانو د زمانې ادبی اثرونه حتماً پر پښتونخوا هم لویدل، او ځکه چې په دغو زمانو کی د هند او ایران په دربارو او علمی حلقو کی فنی نثر لیکل یو کمال ګڼل کیدئ، کله چې پیر روښان د پښتو لکلو لپاره په خیر البیان کی قلم وچلاوه، دلته ده د پښتو نثر لیکلو یوه نوې شیوه او لاره غوره کړه چې هغه د پښتو د قدیم لیک پر ډول نه وه، بلکه ده د عربی او فارسی د فنی نثر په تقلید خپل خیرالبیان په مسجع ډول ولیکه.

کله چی خوشحال خان یو قرن بعد وغوښتل چی په پښتو نثر څه ولیکی ده د روښان او اخوند درویزه او د دغه ادبی مکتب تقلید نه وکړ، بلکه د خپل ذوق او خدا داد استعداده ئې کار واخست، او فنی نثر ئې بیرته عادی نثر ته را وګرزاوه، او دا د خوشحال خان یو مهم ادبی ګټور اقدام و.

د خوشحالل خان په کورنۍ کی د نثر لیکلو د عادي او ساده طرز رواج دوام وکړ، ګوهر خان قلب السیر او افضل خان تاریخ مرصع په داسی نثرو کښل، چی د پښتو د آینده نثر لیکلو لپاره ډیر ګټور و.

البته د دوي نثر هم ځنی نواقص او خامۍ درلودې، چی وروسته ورو ورو سمی سوې او موږ ګورو چی د محمد هوتک پټه خزانه د نثر یوه غوره نمونه ده، او دا ښکاره کوي چی تر خیرالبیان دوه قرنه وروسته د پښتو نثر ډیر اصلاح سوي و.

د محمد هوتک معاصر نثر په کوزه پښتونخوا کی د افضل خان خټک تاریخ مرصع دي او هم د دغه افصل خان په غوښتنه د ده اکا ګوهر خان قلب السیر کښلی دي او د پښتو کلیه و دمنه هم پخپله افضل خان ترجمه کړې ده.

دا درې کتابونه چی په یوه کورنۍ کی په یوه عصر کی کښلی سوي دي، د خټکو د نثر نګارۍ نمایندګی پس له خوشحال خانه کوي.

داسي ښکاري چی په پښتو نثر کی یو اصلاحی حرکت په کندهار کی تر پیر روښان وروسته ژر شورو سوي و، او کله چی د هوتکو دربار ته خبره را رسیده، نو د ژبی نثر داسی شکل پیدا کړي و، چی د پیر روښان او درویزه له سجع سازۍ څخه سادګي ته را رسیدلي و، او لیکوالو به غوښته چی د وینا او لیک تر منځ توپیر لږ سي.

په دې وختو کی د ارغنداو او هلمند او فراه او هریرود پر پراخو سیمو باندي د صفوی او هندی مغولو د سلطنتونو تر منځ د اودالیانو دوران حکمرانی وه. دوی خپله داخلی آزادی ساتله،او یو مثمر حرکت د دې لپاره

موجود و، چې ګوندي پښتانه د پردو له سیاسی او نظامی او فرهنګی اثرونو څخه آزاد پاته سي.

دا حرکت په شمالی پښتنو کی هم لیدل کیدئ، او د پیر روښان تر کورنۍ ورسته او قیادت ایمل خان او خوشحال خان ته رسیدلي و.

سیاسی تحولات هر کله پر ادب او ژبو باندي درانه اثرونه لري. په کندهار کی خو د ابدالیانو او بیا د هوتکو د آزادۍ غوښتنی غور ځنګونه دوام وکئ. او په لره پښتونخوا کی هم د مومندو او خټکو او یوسفزو حرکتونه د ډهلي د مغولو پر خلاف جاري وو. دغه اوضاعو د پښتو پر ادب او فکر او د پښتو پر نثر باندي داسی اثر کاوه، چه له تقلیده ئې خپل آزاد ډول ته را ګرزاوه، او د نورو ژبو د تقلید له کړیو څخه بې رایوست. مګر دغه اثر په کندهار کی د محمد هوتک پر نثر ډیر ښکاري، او نسبتاً په خټکو کی لږ دي یعنی: د محمد هوتک نثر قوي او ساده او خوږ دي او د فارسی له تقلیده څخه نسبت و تاریخ مرصع ته آزاد دي.

اما د تاریخ مرصع نثر لږ لږ هندی رنګ لري او د هندي مغولو د زمانې د فارسی اثر پکی ښکاري، لکه اولسات، صوبدار، امرګانان...

د تاریخ مرصع ژبه جمله سازي، او د کلام سیاق هم تر پټې خزانې د فارسی ژبی اغیزي ډیري لري، خو بیا هم یو قوی او ساده نثرګانه سی.

د تاریخ مرصع خطی نسخې په پیښور او لندن کی سته، تر اوسه ئې کومه خطي نسخه په افغانستان کی نه ده لیدلی سوې. یوه نسخه ئې په پیښور کی لس کاله دمخه له ښاغلی دوست محمد کامل سره وه، دوی غوښتل، چی دغه کتاب تصحیح او تحشیه کړي، چی خوشبختانه دا کار اوس تر سره سوئ او تاریخ مرصع د ده په همت چاپ سوئ دئ.

د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځي ته څو کاله دمخه یو څو مایکرو فلمونه له لندنه را رسیدلی دي چه په هغو کی یو تاریخ مرصع مایکرو فلم دي.

دا نسخه د لندن د پوهنتون په کتابخانه کی ده، او په خورا ښکلی نستعلیق د محمد حسن پیښوري په خط په ۱۲۸۹هـ لیکلی سوې ده، چه ۱۲۰٤ مخونه لري، او یو ښه غونډ لوی کتاب دي.

له دې څخه ځینی اقتباسونه د راورټي په ګلشن روه ۱۸٦۰م او د پادری هوز په کلید افغانی ۱۸۷۲ کی چاپ سوي و، مګر د کتاب اصلی او بشپړه نسخه نه وه خو اوس زه له دغه مایکرو فلمه څخه په دې مقاله کی استفاده کوم.

محمد حسن پیښوری د دې نسخې لیکونکی د نستعلیق ښه استاد دي. خط ئې ښکلی او د هندی نستعلیق ښه نمونه ده مګر دی فقط خطاط دي او په دې نسخه کی ډیري علطي کړي دي یا به دا وه چه دې په پښتو نه پوهیدئ یا به ئې اصلی منقول عنها نسخه غلطه وه، نو ځکه که څوک وغواري چه د تاریخ مرصع یوه مکمله او بشپړه ثقه نسخه ومومی، باید یوازي بر دغی نسخې باندي اکتفا ونکړي، او له یوې بلی نسخې سره یې حتماً مقابله وکړي، چی نواقص او علطی ئې لري سی.

دلته زه د تاریخ مرصع هغه فصل له دغه مایکرو فلمه اخلم، چی افضل خان د میرویس خان پر احوال لیکلی دي او دا ځکه اهمیت لري چی:

۱ـ په تاریخ کی د یوه معاصر پښتون مؤرخ لیک دي د حاجی میرویس خان په باب، موږ خو د پردو مؤرخانو لیکونه د میرویس خان په احوال کی کتلی دي. اوس به وګورو چی یو پښتون معاصر مؤرخ څه وایی! او البته دا یو مهم سند دي.

۲ـ د افضل خان د نثر یوه مکمله نمونه ده او د تاریخ مرصع د نثر خصوصیات ښه څرګندوي.

۳ـ هغه څوک چی د پښتو نثر تحقیق کوي، بیله هغی ټوټې چی په ګلشن روه کی اته نوی کاله پخوا چاپ شوې ده، یوه بله بشپړه نمونه به هم ولري چی

د انتقادي څېړنو لپاره ئې په درد وخوري. (دا خبره د تاريخ مرصع تر چاپ پخوا ليکلې سوې وه، اوس خو ګرده کتاب زموږ په لاس کی دئ).

## ذکر د ميرويس غلجی

په اصل اوتک[1] دي. په اطراف او جوانب د قندهار، اولسونه د پښتنو لکه اودل[2] او غلجی[3] او ترين[4] ميشته دي. د ايران د پادشاه د لور په يوه واجبی[5] په دې اولساتو مقرر شته. د قندهار صوبه دار ئې[6] له دوی نه اخلی. قديم الايام اربابی په اولس کی د اودلو ده د خدکی سلطان[7] په کاله کی، هرګاه چی ارباب د اودلو مستقل و، او اولس د اودلو زورور و دي نورو اولساتو د پښتنو به عمل و مغل[8] ته پواقعی ورکاوه.

---

۱. خلک ئې اوتک وايی، مګر ليکوال ئې هوتک ليکی. افضل خان د خلکو وينا او ادا ضبطه کړې ده.

۲. تول پښتانه اودل وايي، مګر ملايانو او ليکوالو له دې څخه ابدال، ابدالی جوړ کړي دي، احمد شاه بابا هم وايي:

ټوله يو دي که غلجی دي که اودلي
ښه هغه چی ئې ښيښته د زړه صفا ده

(ديوان احمد شاه)

په کندهار کی متل دي: د خدای داسی رضا ده، چی اودلی ودوي ترين يې ورانه ده.

۳. دا قديمه املار ده، اوس مرزايانو غلزائی ځنی جوړ کړي دي.

٤. ترين د پښين او لورلايي په سيمو کی دي، چی پخوا د کندهار سيمی وې.

٥. واجبي: ماليات.

٦. مراد د هغه وخت والی دي.

۷. سلطان په ۱۰-۱۱ قرن کی يو لقب و، چی محلی حکم دار ته ورکول کيدئ. خدکی يا خودکی د ۱۰۵۰هـ په شاوخوا کی د اودلو مشر او د قندهار حکمدار و. دی د خضر خان زوی او د ملک سدو لمسی و.

۸. په تولو نسخو کی مغل دي مګر په چاپی نسخه (ص ۳۹۹) کی ايرانی ليکل سوي دي!

هغه چار چی حق تعالی ورانۍ ته پیښوي، حکامو وته رهنمونی د غیر قانون او غیر دستور وښیی. د خدکی سلطان سره د قندهار صوبه دار مخالف شو، او سبب ئې د مخالفت دا ؤ چی خدای تعالی ده ته هس تعصب د دین ورکړي و، او زورور هم و، چی ایرانی څه به مخالف وویل، د صوبه دار په دربارکی به ئې مړ کړ.

دا واقعه د ایران و پادشاه ته لاړه، حکم د ایران د بادشاه په صوبدار راغۍ، چی خدکی سلطان مړ کانۍ[1] په فریب ئې وباله، چی مهم د بلوخ پیښی دئ، مصلحت کړۍ بویه، صوبدار ته ورغي، بالښت ئې د ده په خوله کښښښل، خفه کړ مړ ئې کړ، بیا د ده له اولاده تربور ئې و، هغه ئې سلطان کړ.

د ده مشر زوی و، قلندر سلطان[2] نومیده. هندوستان ته لاړ، ډیر مدت ئې په نوکري د شهزاده دارا شکوه تیر کړ، هغه صوبدار د قندهار ومړ[3] بل ئې په ځای صوبه (دار) شو، دا د سلطان خودکی په ځای چی سلطان شوي و، د ده له لاسه بند و بست نه کیده، قلندر سلطان چی خبر شو چی هغه صوبدار مړ شو[4] او د ده دلاسه بندوبست نه کیږي، را روان شو، وطن ته راغۍ، ملازمت ئې د صوبدار وکړ.[5] دا واقعه ئې و بادشاه ته د ایران وکښه، چی قلندر سلطان راغۍ. د ده په باب څه حکم دئ! بادشاه په حضوره وباله ډیره مهربانی ئې پر وکړه، فرمان ئې د سلطانۍ او خلعتونه ئې ورکړه، رخصت ئې کړ وطن ته راغۍ، ډیر مدت ئې سلطانۍ دلته وکړه، ښه بند و بست ئې وکړ، دې صوبدار هم بیا په یو سبب د ده سره کاوش واخست. یو تربور ئې د ده غرض ګوي، هغه ئې و پوښتیده، چی د ده څه فکر بویه! هغه ورته ووې، چی ته ئې را وبوله

۱. کانې: د ختېکو په لهجه د کړئ، کاندي پر ځاي.
۲. دا نوم نورو مؤرخانو لشکر خان کنبلی دي چی په ملتان کی حکمران و.
۳. ومړ: مړ سو.
٤. دا جملې په قلمی نسخه کی کرغیرني دي. له چاپي څخه سمي ولیکلې سوې.
٥. دا صوبدار او حاکمان له صفوي درباره مقرریدل.

ورته وايه چې د ما يو واده په دا پښتنو کې بويه، د ده پيغله لور ده، هغه ور ځني وغواړه، که دا ئې قبول کړه بهتر، او کنه غذر به دي ورته جوړ شي. قلندر سلطان ئې وباله، دا حقيقت ئې ورته ووې، ده قبول نکره، نور ئې په قيد کړي و. (يوه) شپه ئې له قيده وباله، ورته ئې ووې: چې دا امر چې ما ويلئ دئ شوني دي که نه! ده ورته ووې: دا کار شوني[1] ندي. نور هر چه ستا رضا. صوبدار شراب څښلی ناست و توره ور څخه پرته وه، پخپله ئې په توره وواهه، مر ئې کړ.

دا واقعه د ايران بادشاه ته لاړه، صوبدار ئې په حضور طلب کړ، چې حضور ته ورغئ بادشاه ورته ووې: چې سلطان قلندر دي په څه مړ کړ! ځواب ئې له هيبته پاتو شو، ادم خواره سپی د پادشاه په سرکار کې وو، په هغو سپيو ئې مات کړ.

د قلندر سلطان بل ورور و، هغه بادشاه حضور ته وباله. د قلندر سلطان مراتب ئې هغه ته ورکړه. کور ته ئې را رخصت کړ، سلطانی ئې ورکړه د ده کشر ورور و. حيات سلطان نوميده، د ورور سره چې به ښکار ته روان شو، ورور به نه پريښ، چې د تا وقت د علم د کتاب دي، ښکار مه کوه. په ما پسې مي راځه!

يوه ورځ ئې حکم مات کړ، په ورور پسې په ښکار روان شو، چې و ئې ليده ورته و قهريده، په ستنه ئې را وجار يوست،[2] حيات سلطان د اوباشو سره مصلحت وکړ، چې ما دې خپل عيش ته نه پريږدي، راځي چې مړ ئې کړو. هغه اوباش او سلطان حيات ور پسې سواره شول، ده شاهين په کلنگ[3] پسې اچولئ و. کلنگ (ئې) نيولي و، د شاهين د سيره ونی[4] دپاره کوز شوئ و.

۱. شووني: شدنی او ممکن.

۲. يعی بيرته يئ را وشاړه.

۳. شاهين او کلنگ دواړه د مرغانو نومونه دي.

٤. په اصل کی دغسی دي. زما په خيال دا کلمه خيرونه=ځارونه ده. يعنی ځار کول.

سپاه ور څخه په ستنه ولاړ وه، حیات سلطان ورغی ده ورته ووې: چی څه لره راغلې؟ اس ئې پر وزغلاوه، سور ئې کړ.[1] هغو نورو اوباشو وواهه مړ ئې کړ.

دا واقعه بادشاه ته لاړه، بادشاه حیات سلطان په حضور وباله عرض وشو: چی حیات سلطان چی قاتل د ورور دئ راغئ. حکم ئې د قید وشو، قید ئې کړ، شپېږ کاله په قید کی پروت و، هسی سبب خداې پیش کړ چی قافله د ایران له ډېره مال متاع سره هندوستان ته روانه شوه. کاکړ لوي اولس دئ، چه په حد د دوي قافله ورغله، تاخت و تاراج ئې کړه.[2] واقعه بادشاه ته ورغله. بادشاه امر وکړ چی څوک شته، هم د دوي علاج وکا! عرض وشو چی علاج د دوي قدیم الایام په سلطان داود لودی سلطان مړ دئ. او ورور ئې په قید دئ. حکم ئې وکړ، چی حاضر ئې کړئ، حیات سلطان ته بادشاه ووې، چی د دې واقعي تدارک تلافی څرنګ کړي بویه! حیات سلطان عرض وکړ چی په اقبال د بادشاه اسان کار دئ. سلطانی ئې ورکړه. په مهم ئې د دوي رخصت کړه.

هغه قاتلان چی د ده سره، د ده ورور ئې مړ کړي ؤ، هغه ئې مړه کړه چی تاسی په دې مصلحت د ما سره ولی اتفاق کاوه! لښکر ئې پس وکړ، مهم ئې د کاکړو (ختم کړ) ډېر کاکړ ئې مړه، تاخت و تاراج کړه، مال او متاع ئې د سوداګرو ډېر وصول کړ.

سلطانی ئې خپله کوله، پس له هغه ئې د قندهار د صوبدار سره کاوش[3] وشو درې امرګانان[4] صوبدار، د حیات سلطان په مهم حکم کره، جنګ سره وکړ. مغل ئې مات کړ، درې واړه امرګانان ئې مړه کړه. نور خانه کوچ روان شو درې زره کوره ور سره ملتان ته لاړ شه.[5] له ملتانه اورنګزیب بادشاه ته لاړ شو

۱. سور کول: زخمی کول، چاپی نسخه: شور ئې کړ!
۲. دا قافلې د پښین او ږوب له لاري ملتان ته تلې.
۳. کاوش: دلته د اختلاف او تصادم معنی لري.
٤. امرګانان: امیران او منصبداران.
٥. لاړ شو: ولاړ.

عرض ئې وکړ چی که قندهار په کار وي، په اقبال د بادشاه اخستل ئې اسان دي.

بادشاه بانصدي منصب ورکړ، چی ته ملتان ته ورځه. دا مهم کړوني[1] دي، اورنګزیب په نورو مهمونو پاتو شو، دي تر اوسه په ملتان کی ناست دئ، خپل منصب خوري.

د قندهار صوبدار، میرویس چی په اصل غلجی په غلجی کی اوتک دئ په سرداري هسک کړ.[2] د ایران بادشاه ته ئې سفارش د ده وکیښ. ور ئې ستاوه، بادشاه فرمان د سرداری ورکړ، را رخصت ئې کړ. څو مده ئې سرداري وکړه بیا د قندهار صوبدار ځنی ازرده شو، شکوه ئې پادشاه ته وکښه. پادشاه په حضور وباله، څو مده بادشاه څخه و[3] تقاضا ئي د رخصت درله[4] اما رخصت ئې نه ورکوه. د بیت الله رخصت ئې ځنی وغوښت. رخضت ئې کړ بیت الله ته لاړ، د هغه نه چی را جارووت[5] په سپاهان راغئ. اما بادشاه ئې و نه لیده، هم بیخبر را روان شو، غلجیو ته راغئ. سرداري ئې خپله کړه. اما له مغل[6] نه په وسواس.

په قندهار کی شاه نواز خان ګرجی[7] صوبدار و. دوه فریق متعینه په قندهار کی وو: ګرجی بل قزلباش نقل کا چی شاهنواز خان او هغه فریق د ګرجیانو چی ور سره وه ډیر ظلم او تعدي به ئې هم په قزلباش هم په پښتنو کړه. شاهنواز ته هم د بلوچ ور پیښ شو فوج ئې خپل په مهم د بلوچ واستاوه، خود

---

۱. کړونی: یعنی عملی کیدونکی دي.

۲. هسک کول: نصب کول، لوړول.

۳. یعنی د بادشاه سره و.

٤. درله: درلوده.

٥. جارووت: بیرته راغی، را ستون شو.

٦. دلته مراد صفویان دي.

۷. مراد ګرګین خان ګرجی دي، چی ارمنی نصرانی و.

ئې له قندهاره مدد له میرویس د غلجیو وغوښت. میرویس د غلجیو سره مرکه وکړه، بلکه د قندهار قزلباش هم په مرکه ور سره، چې وقت دې د پرېښوونه دي، لښکر د غلجی د میرویس سره قندهار ته راغئ، نور میرویس شاهنواز خان ته ځواب واستوه، چې اوس ته هم را ووزه.

لښکر د شاهنواز خان اکثر په مهم د بلوچ لاړ وه، د لږه جمعیت سره ورته را وه ووت شهنواز خان ئې مړ کړ. هله ئې په قندهار وکړه[1] څه لږ ډېر غلجی په هونبره هله کی پریووت[2] نور ئې قندهار واخست. درې زره ګرجی ئې په قندهار کی مړه کړه، او هر چې ترک او قزلباش په قندهار کی وو هغو ته ئې امان ورکړ، هغه لښکر چې شهنواز خان په مهم د بلوچ استولی وه چې له دې واقعې خبر شو، را وجاروتو اما زور ئې پر نه لیده د مشهد او هرات و لور ته لاړ.

هر چې په قندهار کی مال او خزانه چې وه، واړه د میرویس په لاس راغله. د شاهنواز خان د کوړمې[3] سره ئې سړي کره رخصت ئې کړه. هر چې د قندهار قزلباش وو، امن ئې ورکره، هغه ئې د ده د کوړمو سره رخصت کړه.

اورنګزیب په هندوستان کی چې دا واقعه کیده وفات و، بهادر شاه په تخت ناست و وراره ئې د سوغات سره بهادر شاه ته را ستوه، په سر هند ئې ملازمت وکړ. د اسم دپاره ئې سه هزاري منصب د ده وراره ته ورکړ، او پنجهزاري میرویس ته حکم ئې وکړ: چې قندهار دې حواله هم په ده وي.

۱. هله کول: حمله کول.
۲. پریووت: یعنی مړه سول.
۳. کوړمه: ال و عیال.

دماسکه او خطبه دي پکښې ولولي.[1] دوه درې ځله د ایران عظیم فوځونه چې دیرش دیرش څلویښت څلویښت زره سواره و د لویو امرګانانو سره لکه خسرو خان وغیره پر باندي راغله شکست ئې ورکر، ډیر عالم ئې قتل کړ، ډیر غنایم ئې په لاس راغله. تر دا تاریخ چې سنه زر سل شل څلور دي.[2] په قندهار ناست، خپل حکومت او سرداري کا، توفیق شه! ښه پښتون دئ.[3] (ص ۸۲۰ خطی).

۱. د هوتکو په زمانه کی قندهار آزاد و. د چا سکه دلته نده خپره سوې، د میروس خان کامیاب ملی غورځنګ په ۱۱۱۹هـ قندهار د صفویانو څخه آزاد کئ، د میرویس حکومت تر ۱۱۲۷هـ پوره اته کاله یوه ملی او د جرګی اداره وه. سکه اوخطبه ئې د هندوستان د کوم پاچا په نامه نه درلوده.

۲. ۱۱۲٤هـ کال د تاریخ مرصع د دې برخی د لیکنی کال دي. خسرو خان په ۱۱۲۳هـ کال د ۵۰ زرو لښکرو سره پر کندهار حمله کړي، او د میروس خان د ۱٦ زرو کندهاریانو په مرسته هغو ته ماته ورکړه او خسرو هم وواژه سو.

۳. دا د یوه معاصر حکمران او مؤرخ نظر دی میرویس خان ته، افضل خان چی په دغه وخت کی د خټکو مشر و، د کندهار ملی مشر ته توفیق غواړي او دی ښه پښتون بولی. دا د ښه پښتون تعریف د پښتنو په اصطلاح ډیر جامع دي، او هر څوک دا صفت نلري، افضل خان چی پخپله هم پښتون و پوهیدئ چی ښه پښتون څوک کیدي سي؟ او د میرویس خان لپاره ئې دغه توصیف غوره وګاڼه. یعنی: میروس د ټولو پښتنی صفاتو خاوند و.

# ژبي او د تکامل قانون

که څه هم دغه مقاله د ښتو نثر له دغې رسالې سره نيغه اړه نه لري خو بيا يې هم محتويات د پښتو نثر له ودې او تکامل سره بې ارتباطه نه دي. نو ځکه ولې راوړل سوه.

د ژبو د مطالعې يو نوي ډول او علمي لار هم دا ده چې ژبه او د هغې لفظونه او کلمې په داسې نظر مطالعه سي، چې دا ژبه هم يوه اجتماعي او طبيعي پديده ده، او د نورو ژونديو مخلوقاتو په څير د ژوندانه مخصوص نواميس او قواعد لري، او د فطرت احکام هغسې بر جاري کيږي، لکه پر نورو پيدا سوو شيانو باندي.

موږ به يو سړی فرض کو، چې په يوه سړه مځکه کې اوسي نو که دی له دغه ځايه تودې سيمې ته وليږ دي، دغه نوي د ژوند محيط او هوا او اقليم خامخا پر ده اغيزه کوي د ده رنګ او څيره او کالي او د ژوندانه ډول، له نوي چاپيره سره سميږي که سپين ؤ، نو ئې نسل ورو ورو توريږي، او که تور ؤ سپينيږي.

لکه د ده په مادي او جسم او بڼې باندي چې دغه اغيزت کيږي دغسې هم د هغه پر اخلاق او عاداتو او روحي خصايصو باندي دغسې نوي اثرونه کيږي، او هغه ته تبديل او تحول ورکوي.

ژبي د انسان له ارتقايي سيره سره يو ځاي دغسې په دايمي تحول او اوښتنو کې دي او دا بايد ومنو، چې دغه د لوړتياو خوا ته يون، طبيعي حرکت دي. خو د انسان عقل او اراده هم پوره برخه لري، چې دغه حرکت او طبيعي جريان پر سمه لاره واچوي، او د ژبې او اجتماع په ګټه فايده ځيني واخلي.

لکه نن چې علم او پوهنه، د رودو او د غرو او درو د اوبو طبيعي جريانونه پخپل کنترول کې راولي، او د بشر د ګټې لپاره يې استعمالوي، دغسې هم د

ژبو د طبیعی ارتقایی جریان د کنترول لپاره لاري او چاري سته، چی د هغو په وسیله ژبی خوندي کیږي او که د تنازع للحیات پر میدان، نوري غالبی ژبی وغواړي، چی یوه بله ژبه محو او نابوده کړي، نو انسانی سعی او تدبیر کولا سی، چی په علمی توګه هغه ژبه له محو کیدو او زوال څخه وساتی.

د نوي علم دغه تدابیر او چاره سنجی، پر دقیق علمی تحلیل بنا ده، او تطبیق ئې هم د ژبنیو پوهنو د متخصصانو کار دي. هلته چی یو ماهر انجینیر د یوه رود مدهش جریان او سیلاب مهاروي او تر کنترول لاندي ئې راولی، دلته هم (ژب پوهاند) پر علمی اساسونو برابر د ژبی د چمتو کولو او روزلو لپاره په هغه مهارت او پوهی کار کوي:

ما دمخه وویل: چی ژبی هم لکه نور کاینات، ارتقایی یون لري مګر دغه یون خو یو مجدد ارتقایی سیر ندي، بلکه ډیر نور عوامل او مؤثرات سته، چی پر دغه سیر باندي هم اثر کوي او ډیر اثرونه داسی هم دي، چی هغه ژبی وژنی او یا ئې داسی ورستوي چی سبا د نورو مړو ژبو په مخ کی نسی دریدلاي او مقابله هم نه سی ور سره کولاي.

یوه ژبه که څه هم ډیر قوي بنیاد او وسعت او صلاحیت ولري، مګر که د فرهنګی او کلتوری تعلل وسیله نه وي، د یوې بلی فرهنګی ژبي سره مقابله نسي کولاي او هغه غالبه ژبه د فرهنګ او ثقافت په وسیله د دغه خپله مقابله ژبه له منځه باسی.

د پښتو ژبي د تقویت لپاره تر اوسه ډیر څه لیکل سوي، او ډیري لاري ښوولی سوي دي، خو اساسی خبره دا ده: څو پښتو د ثقافت او فرهنګ ژبه نسی او فرهنګی عناصر ئې قوي نسی او فکری ذخایر ونلري او د کلتوري تعلل او فعالیت عراده نسی او د اجتماع په فرهنګی مرکزنو کی داخله نسی، تر هغو دا ژبه، ژبه کیداي نسی.

نو که موږ غواړو چی پښتو د ثقافت پر ډکر له نورو ژبو سره ودروو باید په دغه ژبه کی د فرهنګی تبیین او توضح قوت پیدا کو. د علم او ثقافت د قبلولو لپاره په دغه ژبه کی استعاد پیدا کو، د انسان د فکر او پوهنی ګرانبها زخایر دې ژبی ته را نقل کو، او هموطنانو ته داسی یوه ژبه وړاندي کو، چی هغه د فرهنګ او ثقافت ترجمانه وي. د تهذیب او ښکال خاوند وي د مترقی او عالی ادب قبلوونکی وي د انسان د اوسنیو اړتیاوو او اجتماعی او اقتصادی احتیاجاتو سره سمه وي.

د ژبو لویه زخیره او اسای د توضیح او نشریح وسیله هم دغه الفاظ او کلمات دي چی د ژبی خاوندان ئې د خپلو روزمره مقصدونو څرګندولو لپاره استعمالوي.

الفاظ او کلمات هم تر طبیعی قانون لاندي دي:

ځیني ژبي چی له تاریخی حیثه له یوې کورنۍ څخه دي دغسی ژبی بعضی مشترک کلمات سره لري او کله ځیني تاریخی حوادث ژبو ته نوي مواد او کلمات نباسی او له یوه محیط نه مهاجرت په کوي.

هر څونی چی د انسانانو اقتصادي روابط سره ډیریږي یا د سیاسی او ثقافتی تسلط دایره پراخیږي، دغسی هم د ملتونو د ژبو سره ګډېدل، او د دوي د ژبو اثر یو پر بل باندي ډیریږي، او هر لغت چی په دغه اقتصادي او فرهنګی جریان کی خپل نوي محیط ته ځی، د هغه ځاي شکل پیدا کوي، او ځانته مخصوصه بڼه مومی او زوړ رنګ له لاسه باسی، یا ئې لبر څه بدلوي.

د انتقال او اقتباس قانون چی په نورو کایناتو کی جاري او ساري دي په کلیاتو کی هم کټ مټ لیدل کیږي، لومړي یوه کلمه نوي محیط ته انتقال کوي وروسته نو مطابقت ور سره مومی او دا هغه د (محیط سره د سمیدلو) قانون دي چی بیله ژبو د انسانو پر اکثرو حیاتی شیانو باندي تطبیق کیږي.

د پښتو او دری او هندی ژبو ډېر لغات سره مشترک یا سره نږدې دي. دا ځکه چی یو خو په ریښه کی سره شریکی دي، او بل دا چی د دغو خلقو په منځ کی تل اقتصادی او تجارتی او فرهنګی روابط او تګ راتګ موجود ؤ نو ډېر کلمات له غربه شرق ته نقل سوي، یا له شرقه غربی خوا ته تللی دي.

د پښتو آس،د دری اسپه د سنسکریت اشو ځونی سره نژدې دي. د پښتو ډیوه او د سنسکریت ډیو سره مشترک دي او د پښتو لس او د هند دس او د دری ده د تبدیل تر خاص قانون لاندي دي،[1] او ځکه چی هیڅ ژبه له مشترکو لغاتو او کلماتو څخه نه ده خالی، نو ایا د یوې ژبی تخلیص د نور ژبو له اثره څخه ممکن دي!

زما په عقیده!

اما دلته باید دا خبره هم وکم چی د ژبی سوچه کول خو بالکل ممکن ندي، مګر د ژبی بنیاد قوي کول او روزل او پالل ښه کار دي.

په ژبه کی چی کوم کلمات اوس مستعمل دي، هغه په دې ګناه ایستل، چی له بلی ژبی څخه رغلی دي، معقول کار نه ښکاري، مګر دغه کلمات په ثقافی تعامل کی اچول اوله هغو څخه کار اخیستل ډېر ښه کار دي.

د دنیا ژبي خو کورنۍ کورنۍ دي، او هره ژبه په یوه کورنۍ پوري اړه لري، د هري کورنۍ ژبی بیا ځانته ریښه او بنسټ لري، چی هغه بنسټ د یوې کورنۍ ژبو لپاره مشترک دي، او ډیري ژبي په ځینو خصوصیاتو کی سره نښتیی وي، نو که موږ دغه نښتون او اشتراک پر علمی اساس باندي ومنو، نو د ژبی د خالص توب دعوې به پریږود.

مثلاً: آریایی ژبی چی په هند، افغانستان، پارس، خراسان کی ویلی کیدې، ټولي له یوې آریایي ریښې څخه را ټوکیدلی دي، نو ځکه او د دغو ژبو

---

۱. لام په دال تبدیلیږي. لکه لاس=دست، لس=دس، سین هم کله په (هـ) تبدیل سی لکه سوما=هوما. دس=ده.

اکثریت لغات سره مشترک او نږدې دي. په دغه ژبو کی پښتو له سنسکریت او اوستا او پهلوی او دری سره ډیر خپلوي لري، بلکه د دغو ژبو ډیر زاړه او لرغونی کلمات اوس لا هم پښتو ساتلی دي.

د پښتو اوسنۍ اویجه هغه د پخانو آریایانو ویجه ده، د پښتو اوسنۍ ورشو د پخوانو تاریخی ژبو (ورشه) ده. د پخوانۍ دری (ایر ـ هیر) د پښتو اور یا ایر دي، د پښتو هټ له هندی ژبو سره مشترکه کلمه ده.

دغسي هم: رود، دیوال، بڼه، پیغاره، او داسی په سوو کلمات ئې له دری سره مشترک دي بلکه، بڼه او پیغور اوس دری زبانان نه وایی، مگر پښتانه ئې وایی.

دا مشترک لغات زموږ دي، او کورټ ئې موږ له ژبی څخه نه باسو دغسی هم له عربی څخه ډیر مفغن کلمات لرو، چی اوس زموږ سوي دي، او خاص د پښتو مال دي، او نه ښایی چی پردي وګڼل سي. کیسی، باتا، میراث، ناره، تپوس، ماشوم، له دې ډلی څخه دي، چی اوس پوره پښتو بلل کیږي.

د لغاتو د انتقال په دوره که له یوې ژبی سره ډیر لیري کلمات هم کډیږي او داسی الفظ هم ورته را درومی، چی اصلاً د هغې ژبی له کورنۍ څخه هم نه وي مثلاً سنسکریت چی یوه آریایی ژبه ده، او عربی چی له سامی کورنۍ څخه ده. په پخوانو تجارتی روابطو کی د لومړۍ ژبی ډیر الفاظ عربو ته تللی او په عربی ژبه ګډ شوي دي، لکه اپت، چندن، مشکا، کیور، نانبول چی په عربی کی افت، صندل، مسک، کافور، ننبول ځینی جور سوي دي.

اوس چی موږ ګورو، دغه لغات په پښتو کی هم سته، اپت، چندن، مشک، کاپور ټول مستعمل دي، نو دا الفاظ د سامی عربی ژبی او د آریایی ژبو تر منځ مشترک ګڼل کیږي، او په فارسی کی هم بیرته په عربی شکل مستعمل دي. خو فقط عربی ژبی دونی کار کړي دي چی د خپل احتیاجه سره

ئې سم شکل او رنګ ور ګرځولی دي، معرب کړي ئې دي، يعنی له نوي محيط سره ئې تطابق ور کړي.

داسی کلمات چی په ژبو کی يو له بله سره اقتباس سوي دي، خورا ډير دي او هر ځاي ئې پخپل نوی محيط کی د تابعيت پوره حق هم موندلی دي.

د مثال په توګه به زه دلته فقط د يوې کلمې (پوز) سرګذشت وليکم:

په هره ژبه کی اصوات او حروف خاتمه يو طبيعت او خاصيت لري، چی زه دغه طبيعت ته د اصواتو لغوي خاصيت وايم، او مقصد مي دا دي: ډير ځله چی يو څو توري (اصوات) سره يو ځاي سي د دغه يو ځاي کيدلو په اثر، دوي يو لغوي مفهوم مومی او دغه مفهوم په اکثرو ژبو کی مطرد وي، نو دغه حروف چی په طبيعت کی يوه معنا پرته وه، د يوه مفهوم لپاره عنصري توري بللاي سواي.

مثلا د (س ـ ت) په طبيعت کی د توقف او بودن معانی پراته دي نو دغه عنصر په اکثرو آريايی ژبو کی د دغه مفهوم لپاره مشترک دي، د پښتو هستيدل ـ سته، د پارسی هست ـ استادن د انګلسي stay او stand او نور ډير لغات دغه عنصر لري. نوګويا (س ـ ت) د توقف او بودن لپاره په آريايی ژبو کی عنصري توري دي. دغسی هم (پ ـ ز) د لوري او جګي لپاره عنصري توري ګڼل کيږي. په پښتو پوزه ـ پو، ځکه بينی ته وايي. چی په مخ کی لوړه ده پوزه د (ز) په فتحه لوړي ته وايی، چی غونډۍ ئې هم بولي.

په پارسی هم پوز د انسان او حيوان د مخ را وتلی برخي ته وايی. لکه پوز سګ، پوز شغال چی د دغو حيواناتو (پوز) را وتلی وي. پوزه هم په پارسی دغه معنا لري، او په پهلوی کی هم (پوزک) په دغه مفهوم مستعمل وو، په نورو آريايی ژبو کی هم ۋ لکه:

کردي: پوز

سنګليچی: پوزک

منجی: پوسکله

اوستی: فنچه

ارمنی: پنص[1]

دری: پوز-پزه

پښتو: پوز، پزه، پوزه

له دغی مطالعې څخه ښکاري، چی پوز-پوزه-پزه او نور له آریایی ریښې څخه دي، او عنصري توري هم (پ-ز) دي.

دا آریایی کلمه ډیره پخوا په عربي ژبه ګډه سوې، او د انتقال تر قانون لاندي تللې ده پیړۍ پیړي تیري سوې او تر اوسه هم په عربی کی سته.

یاقوت حموی پخپل معجم الادبا کی لیکی: شبهت مولای الشیخ و هویتحدث و یقول ببوزه کذا وبیده کذا بقر درائیة الیوم... یعنی هغه شیخ چی په پوز ئې یو څه ویل او په لاس بل څه، داسي ښکارئ لکه بیزو.

نو د آریایی (پوز) په عربی کی مستعمل ؤ، او عربو لغت لیکونکو هم د فم الکلب په معنا را وړي دي[2] او اوس هم په فلسطین کی دا کلمه رواج ده، مثلاً که وغواړي چی سړي د توهین په ډول له خبرو څخه خاموش کړي، نو ورته وایي (سه پوزک) یعنی خپله پوزه وتړه!

دا ما یو مثال د عربی او پښتو او پارسی د اشتراک لپاره راوئ، حال دا چی عربی ژبه د سامی کورنۍ څخه ده او پښتو او پارسی له آریایی کهوله دي، مګر سره له دې ډیر مشترک کلمات سره لري، نو که عرب اوس د ښتو او پارسی پوز-بیط-تعین (له همانا څخه) تاریخ (له ماه روز څخه) جرم (کرم) (صرد، سرد) او جمع ئې (جروم، صرود) له خپلی ژبی څخه نسی طرد

١. وګورئ: فرهنګ نظام او برهان قاطع ص ٤٢٧.

٢. شفأ العلیل د عربی د دخپلو لغتونو قاموس.

کولاي.[1] موږ هم باید د دری، سنسکریت، اوستا، عربی، ترکی هغه کلمات چی زموږ په ژبه کی اوس ځاي نیولی او د نوي محیط سره ئې تطابق هم کړي دي له ژبی څخه و نه باسو، او پخپلو ثقافی او فرهنګی اړتیاوو کی استعمال کو مثلا: د ترکی سره مشترک کلمات لرو، لکه اولس، جرګه، ترنک، خان چی زموږ د ژبی پخوانی اجزا دي، له عربی څخه ډېر کلمات لرو چی مفغن کړي مو دي لکه کمیس، سهار، وخت یا هغه لغات چی عیناً را اخیستل سوي دي، لکه قیامت، نسیم، زکات، قبر او په زرو نور کلمات دغسی هم د دری ژبی سره په زرو مشترک لغات لرو نو که موږ دغسی کلمات اوس له ژبی څخه وباسو یقیناً ژبه به خورا محدود او تنګه راته پاته سی.

کله چی په ابتدایی ملتو کی د ژوند حرکت پیدا کیږي، نو په نوو ځوانانو کی د ژبی د سوچه کولو او تخلیص کاذب شوق هم د هوس به توګه پیدا سی چی کوم پوخ اساس نلري، مګر کله چی پوهان سترګی وغړوي، او هغه ملت هم د تعقل او تدبر مرحلې ته ورسیږي، بیرته له هغه هوسه اوړي، چنانچه دغه مرحلې ترکه او ایران دواړو طی کړي دي، او اوس معلومه سوه، چی هغه فکرونه د فطرت له سیره مخالف تش هوسونه وو.

ژبه مو په حقیقت کی فقط د افهام او تفهیم اله ده، نو چی یوه ډله خلق په ځینو الفاظو ښه سره پوهیږي، او هیڅ مشکلات نه وي ورته څه ضرور دي چی دوي په نوي لغات او کلمات له ځانه تراشی، او ځینی وحشی او نامانوس الفاظ به د مدنی او منلو الفاظو پر ځاي دروي!

ښه به دا وي، چی ژبه د ثقافت په ذخیرو ډکه کري، او ټول هغه الفاظ او کلمات په کار کی واچوي، چی ژبی پخوا له نورو څخه را جذب کړي دي.

---

۱. د دې کلماتو لپاره د خوارزمی مفاتیح العلوم او العرب د جوالیقی تألیف وګورئ.